

د پښتنو ډیوه
Ketabton.com
لیکواله : فوزیه ارزو

ketabton.com - The Digital Library



# د پښتنو ډیوه

لیکواله : فوزیه ارزو

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پیژوندنه!


| | |
|---|---|
| نوم. | د پښـــتنو ډیوه |
| لیکواله. | فوزیه ارزو |
| ډیزاین. | آریان |
| کمپوز. | آریان |
| د لیکوالې شماره. | 003378294943 |


که چیری تاسی هم د کتاب په هکله مشورې ته اړتیا لرئ یا هم غواړئ خپل کتاب په پې ډې بڼه نشر کړئ، نو له موږ سره په لاندې شمار و رابطه وکړئ.

00971501455350

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

## دا کتاب دې زما خوږ پلار جان او خوږې مور جانې ته ډالۍ وي.

ketabton.com - The Digital Library



له ښوونځي نه راووتم، په درانه، زنګېدلي قدمونو روانه شوم. زړه کې مې بیا هم هغه پخوانۍ وېره وه: *که نن بیا هغوي لاره کې وي؟*
نن خو حیا هم راسره نشته.
خو ځان ته مې وویل: *نه، ان‌شاءالله، نه به وي. سهار چې راتلم، نه وو.*
قدمونه مې غټ کړل، لاره کې مې شاوخوا ته کتل. زړه مې دربیده.
کور ته نږدې شوم، خو هغو کسانو مې سترګو ته رانغلو.
ځان سره مې وویل: اووف، خدایه شکر! آخر هم کور ته راورسېدم. دا ورځ او شپه مې هم بخېر تېره شوه.

سهار شو.
خور مې غږ وکړ:
– ته تر اوسه نه یې راپاڅېدلې؟ اوه‌نیمې بجې دي! ته لکه چې نن ښوونځي ته نه ځې؟
د "ښوونځي" نوم په اورېدو راوغورځېدم. ژر مې ساعت ته وکتل؛ په رښتیا هم اوه‌نیمې بجې وې.
خور ته مې په غصه وویل:

ketabton.com - The Digital Library



---

ولې دې وختي نه جګولم؟ وګوره ناوخته شوم! او نن خو – مو اول درسي ساعت د هغه بدخویه ښوونکي دی.

خور مې، چې له ما مشره ده، نوم یې شبنم دی. هغه لسم ټولګی لوستی او بیا یې زده‌کړې پرېښې وې. کوژده شوې وه.
هغه، چې د الماری جامې یې ځای پر ځای کولې، له مسکا سره وویل:
سهار نه مې دا دریم ځل دی چې راځم، جګوم دې. خو – زموږ آغلې ډاکټر صاحبه شپه تر سهاره په درسونو سبا کوي، او بیا سهار د لمانځه نه وروسته خوبونه کوي!
و مې ویل:
سمه ده، سمه ده! اوس نو بیا د پېغورونو سلسله مه – جاري کوه.

په بېړه پاڅېدم، د ښوونځي جامې مې واغوستې، بکس او کتابونه مې سم کړل، له کوټې راووتلم. د دروازې سره د بوټونو په پښو کولو بوخته وم، چې مور مې له پخلنځي راووتله.
هغې وویل:

ketabton.com - The Digital Library



وه نجلۍ، ته بیا د لمانځه نه وروسته بیده شوې وې؟ —
وګوره، بیا ناوخته شوه، چاې دې هم نه دی څښلی!

و مې ویل:
ډېر خوب راغلی و، مورې. هسې هم په تفریح کې به یو —
څه وخورم، اندېښنه مه کوه، لاړم.

مور مې وویل:
خدای په امان، لورې! په لاره کې ډېر پام کوه، وخت —
خراب دی.
و مې ویل:
اسمه ده! —

له کوره ووتلم. له کوره تر ښوونځي پورې شاوخوا پنځلس دقیقې پلې مزل وو، خو کله کله به دا لاره ماته د یو کال په اندازه اوږده او ستړې ښکاره شوه. یوه خوا ناوخته وو، بله خوا بیا د هغوی وېره مې په زړه کې وه.
خو ښه وو، دا ځل هم څوک نه وو.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې د ښوونځي دروازې ته ورننوتم، لس بجې او اته دقیقې شوې وې. په بیړه مې صنف ته ځان ورسوه، دروازه مې خلاصه کړه، نو سترګې مې د هغه بدخویه ښوونکي سره ولګېدې.

څه مې ونه ویل، ورو مې سلام وکړ، د خپلې څوکۍ لور ته روانه شوم، چې شاته د ښوونکي غږ شو:
— چیرته، چیرته، مېرمن ډیوې؟

مخ مې ورو واړاوه، ورته مې وویل:
— څوکۍ ته.

وې ویل:
— چا اجازه درکړه؟
پوه شوم چې بله لاره نشته، دروازې خوا ته روانه شوم. کله چې له صنف نه ووتلم، مخ مې بیرته واړاوه او ښوونکي ته مې وویل:
— څه کیږي، ښوونکي صیب؟ د باندې مې مه باسه، همدلته لاندې کښېنم، ځکه چې درس رانه ټول تېرېږي.

ketabton.com - The Digital Library



خو هغه یوازې په سترګو راته اشاره وکړه، چې "نه کېږي".
زه هم له صنفه ووتم.

د هغه ښوونکي اصول دا وو چې ناوخته زده کوونکی باید

ketabton.com - The Digital Library



پنځلس دقیقې له صنف نه بهر پاتې شي.
او زه به اکثره ایستل کېدم. کېدای شي د خراب قسمت له وجې، تل به همدا د بدخویه ښوونکي ساعت راباندې ناوخته کېده.

په هر حال غوښتل مې لږ ګوښه ځای کېنمه، چې نورې زده‌کوونکې مې ونه‌ویني، ځکه هغوی به چې زه له صنفه بهر لیدلم، نو خندل به یې، ویل به یې: "د دولسم ټولګي اول‌نمره له صنف نه ویستل شوې ده!"

خو چې و مې کتل، محمد کاکا چمن کې جارو وهلو، نو ومې ویل: "هسې هم درس نشته، تر هغو به محمد کاکا سره مرسته وکړم."
هغه زموږ د ښوونځي چوکیدار و، سپین ږیری او ډېر ښه سړی و، خو اولادونه یې نه لرل، ځکه خو مجبوره و، خپله کار وکړي.
ما به هم تل ورسره مرسته کوله، هغه ته هم د خپلې لور په څېر ګرانه وم. ورغلم، ومې ویل: "کاکا زه خو بیا چکر لپاره راویستل شوم."

ketabton.com - The Digital Library



هغه هم وخندل، ویې ویل: "خیر، لورې ته هم بې‌گناه نه
"!یې
".ومې ویل: "جارو راکړه، پنځلس دقیقې وخت لرم
لومړی یې ونه منله، خو هغه ته زما د شلهتوب (زړښت)
.پته وه، نو ځکه یې جارو راکړ
".ومې ویل: "ته تر هغو دمه وکړه
زه هم د چمن د صفا کولو بوخته شوم. هم‌مهاله مې د گلانو
په اړه له محمد کاکا سره خبرې کولې، چې یو وخت محمد
:کاکا وویل
".هله لورې! وخت دې پوره شو، ژر صنف ته لاړه شه"
ما هم جارو کېښوده، لاسونه مې ومینځل، ژر لاړم صنف
.ته، خپلې څوکۍ ته کېناستم
حیا مې نژدې وه، او د ښنگ ملگرې مې وه، تل به یو ځای
.کېنستلو، هر څه مو شریک وو
"هغې ته مې وویل: "څه مو ویلي؟
".ویې ویل: "په بیولوژي کې د نیورون جوړښت
.دا چې دا درس مې تیره شپه مطالعه کړی و، ژر پوه شوم
همداسې وخت پوره شو، ښوونځی رخصت شو ـ زه او حیا
.یو ځای د کور په لور روانې شوو
:حیا ته مې وکتل، ومې ویل

ketabton.com - The Digital Library



"مور خو هسې بې ځایه وېرېدلې وه، هغه هلکان خو ځو ورځې کیږي نه ښکاري."

لا مو خبرې نه وې تمامې کړې چې حیا ناڅاپه وویل: "!هغوی ناست دي"

ژر مې وروکتل، ریښتیا هم هماغه هلکان وو، دا ځل لږ دې خوا ته ناست وو. زه او حیا ژر یو د بل لاس ونیوه. که څه هم ډېره ویره مو وه، خو ګامونه مو غټ اخیستل. له هغوی نه په تېزۍ تېر شوو.

لارې نیمایي ته چې ورسېدو، د حیا کور راغی، هغې خپل کور ته واوښته، زه هم خپل کور ته لاړم.

کور کې یو وار بیا د ماشومانو غږونه، منډې او چیغې وې. زما دوه ورونه هلته وو، دواړو واده کړی و، یو یې دوه، بل درې اولادونه لرل. مشر ورور مې دوکان درلود، کشر ورور مې په یوه شرکت کې کار کاوه. پلار مې دوه کاله مخکې وفات شوی و.

ketabton.com - The Digital Library



هر حال، زه د جامو د بدلولو لپاره خپل کوټې ته لاړم. جامې مې بدلې کړې، له کوټې راووتلم. په هوېلي کې مې مور، خور او دواړه ورېندارګانې ناستې وې.

ورېندارګانې مې له ما سره چندانې ښې نه وې. تل به یې دا خبره راته کوله چې: "ته ولې د کور کارونه نه کوې؟" دوی ته دا ستونزه وه چې زه یوازې درس وایم. ما به تل ورته ویل:
"زه هېڅکله درس نه پرېږدم. زه د خپل پلار هیله باید پوره کړم."

پلار مې غوښتل چې زموږ له کورنۍ نه یو څوک ډاکټر شي. خو زما وروڼه او خور نیمایي درسونه پرېښي وو. خوما بیا له درس سره بېحده مینه لرله، او دا مینه زما د ژوند برخه وه.

که څه هم وروڼو ته مې دا خوښه نه وه چې زه نور هم درس ووایم، ما هېڅکله دا فشار ونه مانه. مور مې هم تل زما ملاتړ کاوه. هغې هم غوښتل چې زه خپله لاره تعقیب کړم او د پلار خوب پوره کړم. درسونو سره سره به

ketabton.com - The Digital Library



مې کار کې هم ورسره مرسته کوله، خو هغوی بیا هم راضي نه وو. ورغلم، د مور ترڅنګ مې کیناستم. مور مې وپوښتل:
«پخیر راغلې؟ ښوونکي خو درته څه نه دي ویلي؟»
ما ورته وویل:
نه مورې، څه به وایي شاباسي سره سره یي ډالی هم» راکړه .«
شبنم ویل:
هوکینه، ستا ډالۍ مور ته معلومه ده.» بیا ټولو وخندل».

شپه شوه، ټوله شپه مې خوب ونه کړ. ځان سره مې وویل که کور کې وایم، ورونه مي هسي هم بهانه کوي چې ښوونځي ته لاړه نشم، او که ونه وایم هره ورځ به څنګه د داسې ویرې سره ځم؟ څه معلومه ده، که هغوی کوم پلان لري یا راسره کوم بد کار کوي.

خو بیا مې ځان ته ډاډ ورکړ چې څه نه کیږي، خلک شته، هغوی څه نشي کولی.

ketabton.com - The Digital Library



شپه تېره شوه. سبا چې ښوونځي ته روانې وو، حیا ویې ویل:

«. شپې مې ډېره خفه تېره شوه داډیر بدخلک دي»

ومې ویل:

«.نه، څه نشي کولی. وګوره، دومره خلک دي»

خوراغلو ښوونځي ته درسونه مو وویل، خو زما او حیا دواړو فکر خراب و. کله چې رخصت شوو او کور ته روان وو، هغه هلکان زموږ په لاره کې ناست وو. مخ ته یې موټرسایکل ولاړ و؛ یو یې پر موټرسایکل ناست و او بل یې څنګ ته ولاړ و.

حیا مې لاس ټینګ ونیوه او ویې ویل:

«دا خلک دلته ناست دي، اوس څه کوو؟»

ما ورته وویل:

مه وېرېږه، شاوخوا لږ خلک شته، هېڅ نشي کولی.» را»
روان شوو. کله چې هغوی ځای ته راورسېدل، یو هلک کاغذ زموږ مخ ته وغورځاوه، خو موږ هېڅ پام ورته ونکړ، په چټکۍ له هغه ځایه تېر شوو.

ketabton.com - The Digital Library



د حیا لاسونه رپېدل، ما ورته وویل:
«ارامه اوسه، هېڅ نه کېږي، هغوی هماغه لوچکان دي.»

خو حیا وویل:
«زه څومره هغوی نه وېرېږم، تر دې زیات مې خپله کورنۍ نه وېرېږم. که هغوی ته وواېم هم ستونزه ده، ځکه کېدای شي ښوونځي نه مې راوګرځوي، خو که ورته نه وایم هم وېرېږم چې دا هلکان څه ونه کړي.»

ما ورته وویل:
«خېر، مه وېرېږه. سبا که چېرته ولاړې، خپله به ورته یو څه ووایو چې پوه شي مور هغسې نجونې نه یو.»

هغې هم ومنله.---

کور ته راغلم، جامې مې بدلې کړې، او هماغه کوټه کې ناسته وم چې شبنم راغله. هغې وپوښتل:
«ولې یواځې ناسته یې؟»

ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



«.هسې، درس مې ډېر دی، غواړم لږ مطالعه وکړم»

:هغې راته په ځیر ځیر وکتل، ویې ویل
ته ولې داسې یې؟ څه شوي؟ دا دوه ورځې ډېره ارامه»
«یې... ښوونکو خو به څه نه وي درته ویلي؟

:ومې ویل
«.نه، څه نشته»

:خو هغې ونه منله. وروسته مې ورته وویل
«!اسمه ده، وایم، خو چاته مه وایې»

هغې هم ومنله. بیا مې ورته ټوله کیسه وکړه. شبنم هم خفه
:شوه. ویې ویل
اوس به څه کوې؟ داسې خو نشي کېدای! دا هلکان څوک»
«دي؟

:ومې ویل
«.نه یې پېژنم»

ketabton.com - The Digital Library



هغې مشوره راکړه:
«سبا ورته خپله غوسه ښکاره کړه، شاید پوه شي چې موږ ساده نه یو.»

شپه همداسې تېره شوه. شبنم ډېره خفه ښکارېدله.

سبا مې ځان جوړ کړ. کله چې روانېدم، شبنم راغله، ویې ویل:
«هیڅ مه وېرېږه، په ارامۍ لاړه شه. هغسې خلک ډېر څه نشي کولای. ته هم ورته ځواب ورکړه، هیڅ نه کېږي!»

ومې ویل:
«سمه ده.»

لاړم ښوونځي ته. خو درس کې مې هېڅ فکر نه لګېده. بیا هم وخت پوره شو. زه او حیا د کور پر لور روانې شوو.

دا ځل بیا هماغه هلکان د پرون ځای کې ناست وو. همغه ډول یې یو ځل بیا یوه شمیره زموږ خوا ته وغورځوله.

ketabton.com - The Digital Library



ما شمېره پورته کړه، کاغذ مې ټوټې ټوټې کړ، او د هغوی پر خوا مې وغورځاوه. حیا په غوسه ورته وویل:«تاسو هیڅ نه شرمېږئ؟ نجونو ته مزاحمت کوئ؟»

خو هغوی پرته له دې چې بخښنه وغواړي یا پښېمانه شي، یوبل ته یې وخندل او ټوکې یې کولې.

ما او حیا څو خبرې ورته وکړې، شاوخوا خلک راټول شول. خلکو هم غوسه وښوده، هغوی ته یې وویل:
«تاسو خور او مور نه لرئ؟».
په هماغه وخت کې هغوی پر موټرسایکل کېناستل. ما او حیا ته یې ډېر په کرکه وکتل، روان شول. خلک هم خپلو کارونو ته لاړل. زه او حیا هم روانې شوو. له وېرې مو لاسونه رېږدېدل.

حیا خپل کور ته لاړه، زه هم راغلم خپلې کوټې ته. لا سم نه وم ناسته چې شبنم راغله، ویې ویل:
«څه وشول؟»

ketabton.com - The Digital Library



ما ټوله کیسه ورته وکړه. هغه هم ډېره خفه شوه، خو د زړه ډاډ یې راکړ، ویې ویل:
«نور به را نه شي، فکر مه کوه.»

ورځ تېره شوه. شپه وه. زه له شبنم سره پخلنځي کې وم چې د دروازې ټک ټک شو. لږ شیبه نه وه تېره چې د مشر ورور غوصه ناک غږ مې تر غوږ شو.

زه او شبنم په بیړه راووتو. ورور مې چې زه ولیدلم، را مخامخ شو، او ناڅاپي یې په مخ څپېړه راکړه. ویښتانو نه یې ونیولم، نور یې هم ووهلم. خوله او پوزه مې وینې شوې. ناڅاپي مې سترګو ته تیاره شوه، پر ځمکه راولوېدم.

شبنم هڅه کوله چې ماترې وژغوري، خو ورینداږګانې، ماشومان او مور مې ټول راغلل. مور مې زما سر را پورته کړ. ورور ته یې په غوسه وویل:
«څه شوي؟ دې څه کړي؟»

ورور مې موبایل راواخیست، ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



راشه، خپله وګوره!»مور او نور ټول ورته په ځیر وکتل.» له غږونو پوه شوم چې د نن ورځې زموږ او هغو هلکانو ترمنځ خبرې چا ویډیو کړې او پر مجازي شبکو یې خپره کړې ده.

زړه مې ډوب شو، غوږونه مې بند شول. په لړزېدلي غږ مې وویل:
«!ما هېڅ نه دي کړي... هیڅ ګناه نه لرم»

ورور مې بیا هڅه وکړه چې راته لاس پورته کړي، خو مور مې مخ ته ودریده. ویې ویل:
په دې کې د دې څه ګناه ده؟ د هغو بې‌شرفو سزا دې دې»
«ته ولې ورکوې؟

ورور مې په چیغو وویل:
زموږ نوم دې خاورې کړ! خلک به څه وایي؟ زموږ خو»
«!نور عزت پاتې نه شو
شبنم ژر  زه راپورته کړم، کوټې ته یې بوتلم. دواړو مو له سترګو اوښکې بهېدې. شبنم ته مې وکتل، هغه هم زما په اندازه وېرېدلې او خفه ښکارېده.

ketabton.com - The Digital Library



زما په زړه کې یواځې یو غم و: *که هغوی نور ما ښوونځي ته پرې نه ږدي؟* زما هیلې، زحمات، ټول خوبونه به له منځه لاړ شي...

په همدې فکرونو کې ډوبه وم چې د کشر ورور غږ مې واورېد. لږ زړه مې ښه شو، فکر مې وکړ: *هغه به خامخا پوهېږي چې زه بېګناه یم. هر څه به ورته ووایم، هر څه به سم شي.*

هغه مې وکړه چې پاڅېږم، خو ناڅاپي دروازه خلاصه شوه. ورور مې دننه راغی. لا مې خوله د خبرو کولو لپاره خوځولې نه وه چې په قهر یې راته وویل:
«!ادا دې څه وکړل؟ زموږ ټول عزت دې خاورې کړ»

غږ مې بند شو، هېڅ ونه شو ویلای. هغه روان شو، دروازه یې په زوره ووهله.

شبنم راغله، غېږ کې یې ونیولم. دواړه مو په سلګو سلګو ژړل. خور مې هغه کوله د زړه داډ راکړي، ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



مه ژاړه... خدای شته، هر څه به سم شي. پر الله باور»
!وله«

.ما هم بل څه نشو کولای، یواځې مې اوښکې بهولې

دروازې ته د چا دریدو غږ راغی. مور مې کوټې ته
راغله، داسې ښکارېده لکه هغې هم ژړلي وي. رانږدې
:شوه، ویې ویل
«.لوری، دا څه کیسه ده؟ هر څه راته ووایه»

ما له سره ټوله کیسه ورته وکړه، په داسې حال کې چې
زه، مور او شبنم درې واړو ژړل.مور مې زما سر په غېږ
:کې ونیو، ویې ویل
لوری، زه دربانديې باور لرم. پوهېږم، ستا هېڅ ګناه نشته.»
خو ستا ورونه داسې خلک دي چې یواځې ځان او خپلې
ښځې ویني، نه نور څوک. حتا زه چې د هغوی مور یم،
زما قدر نه کوي. ټول عمر مې د هغوی په پالنه کې تېر
کړ، خو... زه وېرېږم، لوری، وېرېږم چې د دوی د ناسم
غرور له امله ستا ژوند خراب نه کړي... کاشکې تا څو

ketabton.com - The Digital Library



ورځې رخصتي اخيستې واى... کاشکې تا هيڅ له هغو هلکانو سره خبره نه واى کړې...»

زه هم پښيمانه وم، خو څه به مې کولاى؟ هر څه ناڅاپه وشول، لا تر اوسه هم حيرانه وم: *زما خو څه گناه نه وه!*

سر مې د مور په غيږ کې ايښى و، چې وريندار مې راغله. داسې يې راکتل، لکه ما چې کوم جرم کړى وي. مور ته يې وويل:
ورشه، زامن دې درسره خبرې کول غواړي.» او بېرته» لاړه.

زړه مې په درزا شو. د مور لاس مې ټينگ ونيو. مور مې وويل:
«تشويش مه کوه، هيڅ نه کيږي.»
مور مې لاړه، زه او شبنم پاتې شوو. په زړه کې مې خداى ته زارى کولې چې هسې نه، نور مې ښوونځي ته له تلو منعه کړي...

ketabton.com - The Digital Library



وخت په سختۍ تېرېده. د مور او ورونو غږونه مې لږ لږ اورېدل، خو نه پوهېدم څه وايي. تقريباً دوه ساعته وروسته مور مې راغله. سترګې يې سره وې. په بېړه مې له ځايه پاڅېدم.

ومې ويل:
«مورې، څه وشول؟ هغوی څه وويل؟ ښوونځي ته خو به مې پرېږدي که نه؟»

مور مې، چې له سترګو يې اوښکې توېدې، غېږ کې يې ونيولم، ويې ويل:
«هيڅ نه کېږي، لورې... هر څه خدای ته وسپاره.»

د هغې د خبرو مطلب نه راته معلومېده، خو نور يې څه ونه ويل، له کوټې ووتله.

ما او شبنم يو بل ته کتل، حيران وو: اخر څه وشول؟ مور ولې داسې وويل؟

لږ وروسته مور مې ډوډۍ راوړه. ويې ويل:

ketabton.com - The Digital Library



«.ډوډۍ وخورئ، ویده شئ... ناوخته ده»

مور بېرته لاړه، خو نه زه او نه شبنم د ډوډۍ خوړلو زړه درلود. پاڅېدم، اودس مې وکړ، لمونځ مې وکړ، او په دعا کې مې له خدایه مرسته وغوښته.

خور مې ځایونه سم کړل. شپه تیوله د غم او وېرې په فکرونو کې تېره شوه.

سهار مې لمونځ وکړ. د عادت له مخې مې غوښتل د ښوونځي بکس سم کړم، خو زړه مې درزېده، نه پوهېدم: هغوی به راته اجازه راکړي که نه؟بېرته بستر کې پرېوتم. لژ خوب راغلی وو چې د غږونو په شور راویښه شوم. ورغلم، ومې لیدل چې مور او ورونه په شخړه دي.

ورور مې مور ته ویل:
«ما هر څه سم کړي! بله لاره نه وه! شکر وباسه چې اوس هم څوک دا خبره قبلوي!»

مور مې په ژړا ورته زارۍ کولې:

ketabton.com - The Digital Library



مه کوه...له خدایه ووېرېږه! د خپلې خور ژوند مه تباه» «!کوه

شبنم ته مې وویل:
«څه خبره ده؟»

هغې په ژړا له لاس نه ونیولم، کوټې ته یې بوتلم. ویې ویل:
«ورور مې د خپلې ښځې کورنۍ سره خبرې کړي... د هغوی یو نشه‌يي ورور شته، نوم یې اشرف دی... وايي نن «!راځي، او ستا شیرني هغه ته ورکوي

دې خبرې سره زما لاسونه په رېږدېدو شول. غوږونه مې بند شول.
ژر پاڅېدم، ورغلم ورور ته مې وویل:
«ته څنګه داسې کولای شې؟ ته ښه پوهېږې چې هغه یو معتاد انسان دی، ټوله کلي ترې تنګ دي! څنګه دومره «بې‌رحم کېدای شې؟

ورور مې په غوسه شو، را وکتل او وېویل:

ketabton.com - The Digital Library



«دا فکر دې باید مخکې کړی وای! شکر وباسه چې هغوی دې قبولوي، کنه ته خو خلکو ته هېڅ عزت نه وې پرېښی!»

په زوره مې، په چیغه چیغه، ورته وویل:
«ما څه کړي؟ څه ګناه مې کړې؟ ولې د بل چا د ګناه سزا ماته راکوئ؟!»

خو ورور مې چوپ پاتې نه شو، پاڅېد. مور مې زر راغله، زه یې بېرته کوټې ته بوتلم.

زه، خور او مور مې، داسې لکه یوه لویه ګناه مو کړې وي، د بندیانو په څېر مو په خپله کوټه کې یواځې اوښکې تویولې.

زما ورونه دومره سختزړي وو چې د مور هیڅ پروا یې نه کوله، نو زما پروا به یې چیرته کوله؟
د غرمي وخت شو. یوه شوم چې د ورېنداريِ مور، پلار او مشر ورور راغلي دي.

ketabton.com - The Digital Library



ورور مې مور ته غږ وکړ:
دمور لاسونه مي ټینګ ونیول. ما په زوره زوره چیغې وهلې، مور ته مې زارۍ کولې:
«مه پرېږده! مورې، مه پرېږده! خدای ته وګوره، هغوی دې ته مه پرېږده!»

خو مور مې بې وسه وه، یوازې یې اوښکې بهېدلې.

مور مې ورغله، د هغوی لوړ غږونه مې یوازې لږ لږ اورېدل.

شبنم ورغله، یو ساعت وروسته بېرته راغله. د هغې له اوښکو او خبرو پوه شوم چې ورور مې لا له وخته زما سودا کړې...

په منډه را ووتلم. ورغلم. هلته ورونه، مور، ورېنداري او د هغې کورنۍ ټول ناست وو. د ورور پښو ته ولوېدم. په چیغو چیغو مې زارۍ کوله:
«مه کوه! مړه مې کړه، خو د ژوند دا سزا مه راکوه! خدای ته وګوره!»

ketabton.com - The Digital Library



خو هغه دومره بې رحمه و، چې نه يې د مور زارۍ ته وکتل، نه يې زما چيغو او اوښکو ته.

د سمال کالي يې هغو ته ورکړل، هغوی هم په خوشحالۍ ولاړل.

مور مې زما لاس ونيو رايې وستلم خپلې کوټې ته.

زه، مور او خور مې، په چيغو چيغو ژړل. ټوله ورځ مو په همدغې کوټه کې د فرياد، اوښکو او بې وسي تر سيورې لاندې تېره کړه.

شپه راغله. ورېنداري ډوډۍ راوړه.

مور مې ډېرې زارۍ وکړې، خو يوه مړۍ هم ستوني نه تېرېده. يوازې د مور د زړه د سکون لپاره مې دوه مړۍ وچې ډوډۍ وخوړلې.اودس مې وکړ، لمونځ مې وکړ. بيا په اوښکو ويده شوم.
وخت تېرېده...

ketabton.com - The Digital Library



وروور مې د ښوونځي له نوم اخیستو هم منعه کړې وم.

له مور او شبنم پرته مې نه له چا سره خبرې کولې، نه مې څوک ليدلي. شپه او ورځ، د یو بندي په څېر په کوټه کې اوسېدم.

مور به مې هر وخت نصیحت راته کاوه، زارۍ یې کولې: «لورې، مه پرېږده خپل ځان ته! ته لا ژوند لرې، خدای ته باور ولره!»

شبنم به هڅه کوله چې خبرې را سره وکړي، ترڅو مې فکر لږ بدل شي، خو زما خوښي، زما هیلې، زما ژوند ـ دا ټول یوازې له زده کړو سره تړلي وو.

کله کله به مې کتابونه راواخیستل. دومره به مې وژړل، لکه څوک چې له کلونو وروسته یو له لاسه ورکړی عزیز غېږ ته ونیسي...

د کتابونو پر پاڼو به مې سر ایښی و، داسې مې زړه پرې تړلی و، لکه دوی مې وروستي امیدونه وي.

ketabton.com - The Digital Library



یوه ورځ شبنم راغله، وویل ... :
«امحمد کاکا راغلی!»

زړه مې دومره خوشحاله شو، لکه د پلار د راتګ زېری چې راکړل شي.

په منډه ولاړم، د مېلمنو کوټې ته ننوتم.
سلام مې وکړ، ستړې مشې مې وکړه.

هغه زما په لیدو ډېر حیران شو، ویې‌ویل:
«دا څه در شوي؟ ناروغه یې که څنګه؟ رنګ دې بیخي تبنتېدلی!»

ما ورته وخندل، ورو مې وویل:
«ښه یم...»

شبنم چای راوړ.
د حیا پوښتنه مې وکړه چې ښوونځي ته راځي که نه؟

ketabton.com - The Digital Library



را ته ویل شول چې له هغې ورځې وروسته یې کډه کړې، کور یې خالي دی.

زړه مې ډېر بد شو. فکر مې وکړ، *هغه به چېرته وي؟ *کوم حالت کې به وي؟

له چای وروسته محمد کاکا راغی، پوښتنه یې وکړه: «ولې دې ښوونځی پرېښود؟»

ما ورته ټوله کیسه وکړه. سترګو ته یې اوښکې راغلې، ډېر خفه شو. ویې ویل:
«زه به له ورورونو سره دې خبرې وکړم، شاید خپله پرېکړه بدله کړي.»

خو ما وویل:
«زه خپل ورونه پېژنم، هغوی به هیڅکله ونه مني.»

بیا یې را ته د زړه ډاډ راکړ:
«خدای شته، هر څه د الله په اراده کېږي. هیڅکله د هغه له لوري ناهیلې کېږه!»

ketabton.com - The Digital Library



د محمد کاکا خبرو لږ زړه مې ښه کړ. لږ وروسته ولاړ. د تللو پر وخت یې وویل:
هر وخت چې اړې شوې، بې له فکره راته زنګ ووهه.»
زه به له خپلې لور سره څنګه، همداسې مرسته درسره وکړم.»

یوه میاشت تېره شوه. زما او د یوه مړي جسد تر منځ ... توپیر نه و. یوازې مې ساه اخیسته، نور مې هیلې، ژوند، امیدونه ـ هر څه له لاسه ورکړي وو.

هغوی راغلل. د ولور ټولې پیسې یې راوړې. د واده لپاره یې پنځمه ورځ وټاکله.

شبنم او مور مې ټوله ورځ ژړل، خو زما لپاره خو لا ژړا شپه و ورځ ګرځېدلې وه...
ورور مې په پنځو ورځو کې ټول کارونه سر ته ورسول.
پنځمه ورځ، واده وشو.

ketabton.com - The Digital Library



د شبنم خسرګنۍ هم راغلې، خو د دې لپاره چې د شبنم مېړه بهر ته تللی و، نو هغه نه و راغلی.

د غرمنۍ پر مهال، ورېنداري مې راته د واده جامې راوړې. خو هر څه يې چې ويل، ما نه اورېدل. یوازې مې اوښکې بهېدلې...

شبنم او مور مې هم زما په حال ډېر خفه وې، دواړو ژړل.

له غرمنۍ وروسته، څو ښځې او خلک د «ورا» له پاره راغلل، مراسم پیل شول.

د نکاح پر وخت، دوه تنه د شاهدانو په توګه راغلل. پرته له دې چې زه څه ووايم، ورېنداري مې د يو سړي نوم واخيست، ويې‌ويل:
«!دا د ناوې وکیل دی»

هغوی هم ودرېدل، او بې له زماله رضا پرته نکاح وتړل شوه...

ketabton.com - The Digital Library



.ورځ تېره شوه. شپه راغله. زه د دوی کور ته یووړل شوم

هلته نه کوم شور و، نه مېلمانه، نه د واده خوښي. دا ځکه چې اشرف، هغه سړی چې زه یې نکاح کړم، یو معتاد و. د واده هیڅ چمتووالی نه و. هغوی هم څوک نه وو بللي، ځکه چې شرمېدل، خلکو ته یې نه شوای ویلی چې دا د ...دوی زوی دی

یوه نوې کوټه کې کېنول شوم. هر څه نوي وو: فرش، .کالي، وسایل... خو د زړه حالت مې زوړ او مات و

مور، شبنم، ورېنداري او څو نورې ښځې ناستې وې. ډوډۍ یې راوړه، خو ما او شبنم هیڅ ونه خوړه.مور مې .ډېر کوښښ وکړ، خو زموږ زړونو ته ډوډۍ نه رسېده

د مور سترګې د وینو په شان سره وې. له سترګو یې درد بادېده. ښکاره وه چې څومره دروند درد یې زغملی، خو بیا هم زما لپاره به یې اوښکې پاکولې... داسې، چې زه پرې .پوه نشم

ketabton.com - The Digital Library



.هغه شپه همدلته، د دوی په کور کې، ټول ویده شوو

سبا ته، څو ښځې او خلک د مبارکۍ لپاره راغلل، خو نور هر څه چوپه چوپتیا وه. نه مېله وه، نه خوشالي، نه د واده ...خوږ احساس

مازیګر زما ورور راغی. مور، شبنم او ورېنداريې مې .بېرته روانېدې، کور ته تللې

:مور مې ټینګه نیولې وم، ما چیغې وهلې
مه ځه موره! ما دلته یوازې مه پرېږده! زما دلته زړه»
«...چوي

مور او شبنم دواړو غېږ کې نیولې وم، دواړو یې چیغې ...وهلې، ژړل

:مور مې ژړا کې وویل
«...صبر وکړه لورې! الله شته، هر څه وینې»

ketabton.com - The Digital Library



هلته، لکه قیامت وو. حتی څو ښځې چې ولاړې وې، هغو هم ژړل.

هغوی مې له مور نه په زور جلا کړه. مور او دوی مې روان شول.

ما غوښتل، له ځایه پاڅم، خو سترګو ته مې توره تیاره راغله، غوږونه مې بند شول، او په ځمکه ولوېدم... نور په څه نه یم پوه شوې.

کله چې مې سترګې خلاصې شوې، شپه وه. په هغه ... نوې کوټه کې یواځې وم، هیڅوک نه وو.

لږ شیبه، نه پوهېدم چې چیرته یم، څه شوي، خو ورو ورو مې د ورځې ټولې خاطرې ذهن ته راوګرځېدې...

ډېر مې وژړل... زړه مې دردېدلی و.

لږ وخت وروسته، د ورېنداري یوه خور، چې یو څه ځوانه وه، راغله.

ketabton.com - The Digital Library



ډوډۍ يې راوړه، ويې ويل:
دا وخوره، ډېره كمزورى شوې يې، له همدې امله»
«!بېهوښه شوې

هغې ببرته لاړه، خو زما زړه هيڅ ډوډۍ ته نه
كېده.مجبوراً، د مور د زړۀ لپاره مې څو مړى وخوړلې...

اشرف پنځه خويندې لرلې.
دوى څخه دوه خويندې واده شوې وې، درې لا بې نكاح
وې.
درې وروڼه يې لرل: يو مشر، چې له واده يې يو كال تېر
شوى و، يو بل، او يو كشر زوى.
په دېوال مې ساعت ته وكتل، څه باندې لس بجې وې.
پاڅېدلم او د سهار لمونځ مې وكړ. د دعا په حال كې وم
چې د دروازې غږ شو، چې ور ومې كتل اشرف و.
لاسونه مې په رپېږېدلو شول، زړه مې په درزا شو. ژر مې
جاي نماز ټول كړ او
د كوټې په كونج كې ودرېدم. هغه زنګېدونكو قدمونو
راغلى كيناسته خو هېڅ ښه نه ښكارېده. ځمكې ته يې كتل،

ketabton.com - The Digital Library



څو ځله یې زما خواته وکتل، خو داسې په حېرانتیا یې کتل.
.بیا یې بالښت سم کړ، سر یې پرې کېښود او ویده شو

زما پښې له وېرې دومره رپېدې چې د درېدو توان مې
نه وو. په همدې کونج کې کیناستم او هغه ته مې کتل. نه
.پوهېږم کله خوب راغلی و، ویده شوې وم

یوه وخت د اذان په غږ راوېښه شوم. ژر مې هغه خواته
.وکتل، خو هغه لا هم ارامه پروت و

.پاڅېدم، لاړم او لمونځ مې وکړ
لږ رڼا وه قرآن په تلاوت مې پیل وکړ. لږ وروسته دروازه
خلاصه شوه، د اشرف مور راغله، ویې ویل: راشه، بهر ـ
قرآن مجید مې کېښود او راپورته شوم.

:هغې راته د پخلي ځای وښود او وې ویل
«.اوړه لامده کړه، ډوډۍ پخه کړه او چای تیار کړه»

هغه بېرته لاړه. زه حیران وم چې څنګه دا هر څه وکړم،
ځکه ما ته د هیڅ شي اندازه معلومه نه وه چې دوی څومره

ketabton.com - The Digital Library



را اخلي.خو په هر حال، اوږه مې لامده کړه، چای مې تیار کړ، بیا مې ډوډۍ پخه کړه.

خو دوی ټول ویده وو، هېڅوک مې هم ونه لیده. کار مې خلاص کړ، زړه نازړه کوټې ته راغلم.

کله مې وکتل، اشرف نه و. زه خوشاله شوم
کوټه مې پاکه کړه، راووتم .

هغوی لا له خوب څخه نه وو پاڅېدلي. د دوی کوټې ته مې چای ور وړی اوټول مې پاڅول .

د اشرف پلار سپین ږیری و، خو مور یې ځوانه او ډېره بده ښځه وه.

ټوله ورځ مې په کار کولو تېره کړه.

شپه شوه، خو اشرف مې بیا هېڅ ونه لید، نه یې چا پوښتنه وکړه.

ketabton.com - The Digital Library



شپې ناوخته، د خوب لپاره مې کوټې ته لاړم، ځان ته مې ځای سم کړ او ویده شوم.

نیمه شپه کې مې غږونه تر غوږ شو، ژر راویښه شوم ومي کتل اشرف الماریَ کې څه لټول، حالت یې هېڅ سم نه و. سترګې یې تکې، سره وې. ما ته چې وکتل، لږه شېبه همداسې په ځای ولاړ پاتې شو، بیا روان شو. کوټې نه ووت، تګ یې هېڅ عادي انسان ته ورته نه و، پښې یې رېږدېدې. ډېر وېره شوم. بیرته ځای کې سملاستم، خو هیڅ خوب نه راته، ځکه ویرېدلی وم چې شاید بیاراشي.

سهار شو، بیا مې د پرون په شان ټول کارونه وکړل هیڅا هم کارنکوو ، مازدیګر شبنم زنګ ووهه، ژر مې جیګ کړ، ډېر خفه شوې وه. د هغې او مور سره مې خبرې کولې چې د اشرف مور غږ شو: «دلته راشه.» ما هغوی ته د خدای په امانې وویل او ورغلم. هغې راته وویل :موبایل کومه دی راکړه ماته ماهم موبایل ورکړ.بیایې وویل: نور داموبایل زمادی دلته دموبایل اجازه نشته اوس ځه ورکه شه . زړه مې ډېر درد وکړ. کوټې ته لاړم او ډېر مې وژړل.

ketabton.com - The Digital Library



خو همداسي څو ورځې او شپې تېرې شوې، اشرف مې بیا هېڅ ونه لیدل. د دوی له خبرو پوه شوم چې هغه داسې په شپو او ورځو ورک وي چې کله یې د نشې مواد ختم شي بیا راځي، کورنه څه وړي او خرڅوي، او ځان ته نور اخلي. ټوله ورځ مې په کار او شپه په ژړا تېرېده.

یوه ورځ ډېره ناروغه شوم، ډوډۍ مې رانه خرابه شوه. بله ورځ مې خواښې راته کینسته، چې کله مې ډوډۍ پخول، په هم هغه ځای یې په ګوتو ووهلم. ګوتې مې وسوځېدلې او ډېر درد یې کاوه. ویل: «دا درد چې دې یاد وي، بیا به هېڅکله څه خراب نه کړې.»

همداسي کله به یې په یوه بهانه زورولم، کله بله،کله کله به یې په کوم څه یې ویشتلم. څو ورځو کې رانه سمه لیوني جوړه شوه. ټولې سمې جامې یې رانه واخیستلې، یواځې دوې جوړې یې راته پرېښې وې، د جامو اغوستلو ته یې هېڅ نه پرېښودم.

مور او شبنم پسي ډېره زیاته خفه وم، خو د اشرف مور راته د خبرو لپاره اجازه نه راکوله. مور مې څو ځلې د

ketabton.com - The Digital Library



دوی کورنۍ ته زنګونه وهلي وو، خو هغوی به ورته یوه بهانه کوله او نه یې غوښتل چې له کورنۍ سره مې خبرې وکړم.

څو ورځې وروسته مې مشر ورور راغی، زه یې مېلمستیا لپاره ببولم، خو هېڅ مې زړه نه کېده چې له هغه سره هغه کور ته لاړه شم، ځکه زما د ژوند د تباه کېدو لامل هغوی وو. خو مور او شبنم مې ډېر یادېدل، ورغلم کوټې نه مې څادر راخیسته چې خوابښې مې کوټې ته راغله، ویې ویل: «دلته چې هر څه شوي، یوه خبره هم مور ته مه کوه، کنه ډېره به درته بده شي.»

.ما هم سر ورته د ښه په بڼه وښوراوه، ورور سره راغلم کورته مور او شبنم دواړه د دروازې مخې ته ولاړې وې. زما په لیدلو، مور راغله او ټینګه یې په غېږ کې ونیولم. شبنم مې هم په غېږ کې ونیوله. نورو سره مې هم ستړې مشې وکړه. ورځ مې ټوله د خپلې مور په څنګ کې تېره کړه.

ketabton.com - The Digital Library



شبنم کله څه د خوراک لپاره راوړل، کله بل څه. دواړه ډېر خفه شوي وو يوبل پسي. مور مې څو ځلې د کور او ژوند په اړه پوښتنې کولې. ما ويل، «هر څه ښه دي، هيڅ تشويش مه کوه.» هغې هم زړه نا ارامه وو، پوهېدله چې زه يوازې د تسليت لپاره وايم.

شپه شوه. د ورونو او وريندارګانو سره مو ډوډۍ وخوړه، وروسته خپلو کوټو ته لاړو. شبنم وويل، «هر څه رښتيا ووايه،زه په هرڅه پوهېږم ستا دا رنځوره څېره ماته ښکاري.» ما ورته هر څه وويل چې څومره وخت مې زړه ډک و. هغې ډېر وژړل، خو ما ورته وويل، «هيڅ تشويش مه کوه، زه په الله باور لرم، انشاءالله يو ورځ به هر څه سم شي.» هغه هم لږ ښه شوه.

شپې ډېرې ژر تېرېدلې. دريمه ورځ، د اشرف مشر ورور راغی. او راوستلم ، چا بيخي راسره ستړې مشي هم ونه کړه. کور ټوله ګډوډه وه، يوساعت هم نه وو تېر شوی چې اشرف مور راغله او ويې ويل:
«ميلمستيا دې خلاصه شوه، پورته شه، کور هر څه پاک کړه.ما بله لاره نه درلوده، پاڅيدم او ورځ مې ټوله په کار

ketabton.com - The Digital Library



او خفګان تېره کړه. هره ورځ چې تېره شوه، د هغوی نفرت او ظلم هم ډېرېده. اشرف به پنځه، لس ورځې داسې حال کې و چې درېدلی هم نه شو. نه يې زه پېژندلم، نه کورنۍ. يوازې به د غلا لپاره کور ته راتلو، څه به يې پيدا .کړل او بيا په څو ورځو ورک وو

همداسې وخت تېريد، څو زره تکليفونه مې وګالل چې ورځې مې په کار او وهل، شپې مې په درد او لوږه تېريدلې. څو ځلې د اشرف مور او خوېندو دومره ووهلم چې د زخمونو له امله د ولاړېدو توان مې هم له لاسه .ورکړی و

څوارلس مياشتې مې په همدې حالت کې تېرې شوې. يواځې يو ځل مې مور ليدو ته راغله، کله چې زما ژوند يې وليده، په ژړا لاړه. ما هغې ته قسم ورکړ چې نور رانه نشي، ځکه نه مې غوښتل چې هغه زما ددې حالت په ليدلو .ډېره وزورېږي
سهار وخت وو چې مشر ورور مې راغلی و. که څه هم کرکه مې ترينه کوله، خو بيا هم ورغلم. سترې مشي مې وکړه. ورور مې راته حېران حېران کتل، ځکه دې

ketabton.com - The Digital Library



ځوارلسو میاشتو کې مې دومره بدلون کړی وو چې د خبرو کولو توان مې هم نه درلود. کالي مې خراب او وریښتان مې لکه لیونۍ په څېر ښکارېدل. د مور اوشبنم دحال پوښتلو وروسته لاړم. غوښتل مې چای راوړم، چې د ورور او خواښې په لوړ آواز غږ وشو. په منډه ورغلم، ورور مې خواښې ته په غوسه وویل: «دا مو څنګه حالت ته راوستلې؟» هغې هم ورته وویل چې له لومړي وخته .پوهېدلاست نوځکه نور دڅه ویلو هیڅ حق نه لري

زړه مې خوشاله شو چې کېدای شي ورور مې رحم زړه کې پیدا شوی وي او زما حق لپاره څه وکړي . خو لږ خبرو وروسته ورور بیرته آرام شو او لاړ. زه هم کوټې ته راغلم، چې نور د کوټې په څېر هم نه وه، ځکه ټول شیان اشرف وړي وو. خدای ته مې د خپلې بېوزلۍ لپاره ژړل. خواښې مې راغله، ویښتانو نه یې ونیولم. لامل یې دا وو چې ولې دې ورور باندې ځان ولیده؟ دومره یې ووهلم چې .نور په ځان نه یم پوهه شوې

یو وخت مې سترګې خلاصې کړې، نور هېڅوک نه وو. د لیوره ښځه مې څنګ ته ناسته وه او اوبه یې راباندې

ketabton.com - The Digital Library



شیندلې. هڅه مې وکړه چې جګه شم، خو د ولاړېدو توان مې نه درلود. د لیوره ښځې په مرسته راپورته شوم او کېنستم. کالي مې د خولې او پوزې په وینو لړلي وو. لیوره ښځه ووتله. ځان سره مې وویل: «ترکله به داسې حالت وي، ترکله به زغمم.»نور د پښتنو د عزت په نوم نشم کولی دلته داوزخ کې واوسم. ما هېڅ څه د دې لپاره منلي وو چې مور پښتانه یو، یوه پښتنه ښځه که خاوند پرېږدي ، نو هغې ته ټول په بده سترګه ګوري. خو زما خو خاوند هم نشته، بیا ولې هرڅه زغمم. نور که هرڅنګه وي، باید دې ځای نه لاړه شم. خو فکر مې وکړ چې په یواځې ځان څه کولای شم؟ بل څوک هم نشته چې مرسته ترې وغواړم، ځکه ورونه مې هغوی نه هم بې رحمه وو. خو ځان سره مې وویل

په تاریخ کې زمونږ افغان ښځو په یواځې ځان څومره» همت کړی دی»، تر اوسه یې خلک یادوي. نو زه ولې نشم کولای؟ اوښکې مې پاکې کړې، ځکه دا لومړی ځل و چې د ځان لپاره ژوند کول مې غوښتل. ما چې د چا د نوم عزت لپاره زغمل شول، هغوی زه خرڅه کړم او دې دوزخ ته یې واچولم. ما سره یې هر ډول خپلوي ختمه کړې وه، نو زه دلته له کوم خپلوي سره یم؟ دا ظلمونه

ketabton.com - The Digital Library



زغمم ځکه زما خو خاوند هم نه وو، نو هیڅ حق مې هم نه درلود.

لږه شېبه وروسته د اشرف خور راغله او ویې ویل چې شپې لپاره خواړه تیار کړه. که څه هم حالت مې ښه نه وو، خو پاڅیدم او په سختۍ مې خواړه تیار کړل. ځان سره مې د تللو لپاره یوه لاره پیدا کوله. خواړه وخوړل شوه، ټول ویده شول.
زما دواده طلا مې خواښې سره وه، نو ځکه نیمه شپه پاڅیدم. هغې کوټه کې څوک نه وو، ځکه هغه د خواښې نوي کوټه وه. خواښې مې بله کوټه کې اوسېده. له وېرې مې لاسونه او پښې ټولې رپېدلې، ځکه پوهېدم که هغوی پوه شي نو ژوندی به مې پرې نه ږدي.

خوبله لاره نه وه، ځکه د تللو لپاره مې پیسو ته اړتیا وه. کوټې ته راغلم، ځان سره مې د قلف د خلاصېدو لپاره وړوکی سیم هم راوړی و. په ډېره زحمت مې بکس خلاص کړ، ډېرې پیسې او شیان پرې وو. خو ما یوازې خپل دغاړي امېل سیټ او پنځه زره روپۍ راواخستې او په ورو او ډېره سختۍ مې خپلې کوټې ته راغلم.یو لوی چادر

ketabton.com - The Digital Library



مې راواخستو په سرمي کړ، په څوکه کې مې هغه طلا سيټ تاو کړ. که دا وخت تللې وم نو د بهر حالت هم خراب و. زه ښځه وم، ښايي نورو ځناورو په لاس راغلې وم، نو .په تمه شوم تر څو لږ سهار شي

نيمه شپه تېره شوه، د سهار اذان لا نه وو شوی. و مې کتل، هوېلی کې هېڅوک نه وو. زه هم ورو دروازې نه ووتلم او روانه شوم. دوه کوڅې وروسته سړک وو، چوپه چوپتيا وه، هېڅوک نه وو. يواځې د موټرونو غږ وو. زه .هم د موټر په تمه شوم چې يو زوړ موټر راروان وو

که څه هم ډېره وېره مې درلوده، خو خوبله لاره نه وه، بايد .ژر دې ځای نه تللې وم

موټر ته مې لاس ونيوه، موټر ودريد. يو سپين ږيري سړی وو، په حيرانتيا يې راکتل ځکه چې په دې وخت کې يوه ښځه ډېره عجيبه ښکاره کېده. سپين ږيري وويل: «چيرته ځې لورجانې او په دې وخت کې؟» ما ورته وويل: «کاکا جانه، زه هېڅ بده ښځه نه يم، خو بد حالت کې يم، مرستې ته اړتيا لرم، هيله کوم مرسته راسره وکړه.» هغه نور هېڅ ونه ويل، موټر دروازه يې خلاصه کړه، زړه .نازړه وختلم، هغه هم روان شو

ketabton.com - The Digital Library



لار کې يې وویل: «لورې، هېڅ یوه ښځه په دې وخت کې له کوره په ښه حالت نه وځي، زه دې په حالت پوهېږم، نو اندېښنه مه کوه. که څوک لرې، پته راکړه، که نه زه به د خپلې لور په څېر درسره مرسته وکړم.» زړه کې مې وویل چې اوس هم ښه خلک شته.

ورته مې وویل: «نه کاکاجانه، یو څوک لرم، ډېره مننه چې دومره مرسته مو وکړه.» ژر مې ورته د محمد کاکا د کور پته ورکړه. لاره کې اذانونه شروع شوي وو، خلک د جماعتونو په لور تلل.

نیم ساعت وروسته د محمد کاکا کور ته ورسېدو، غوښتل مې کرایه ورکړم خو سړي وویل: «نه نه دې ته هېڅ اړتیا نشته، لورجانې، ورځه، الله دې درسره مل شي.» ډېره مننه مې ترې وکړه.دمحمد کاکا دروازه مې څو ځلې وټکوله، خو خلاصه نه شوه. زړه کې مې وېره شوه چې که هغه چېرته تللی وي، بیا څه وکړم ځکه بل هیڅوک نه لرم. ما دروازه ټکوله، ناڅاپه محمد کاکا د شا له خوا غږ وکړ چې مخ مي ور واړوه، داسي هک پک يې راکتل. ژر ځادر

ketabton.com - The Digital Library



مخې نه لرې کړ، هغه وپېژندلم، راغی او ویې ویل: «ته یې لورجانۍ؟» ما وویل: «هو، کاکا زه یم.» ژر یې کیلي له جیبه راویستلې او دروازه یې خلاصه کړه.

کوټې ته ورغلو، د محمد کاکا ښځه په دعا کولو بوخته وه. زموږ په لیدو ژر جاې نماز ټول کړ او سترې مشي یې وکړه، کېنستلو. ښځه مې څو ځلې مخکې هم لیدلې وه، ډېره مهربانه او ښه ښځه وه. ما ورته وویل: «خاله جانې، لمونځ مې ندی کړی.» هغې هم جاې نماز راواخیسته، زه پاڅېدم او لمونځ مې وکړ. د دعا وروسته راغلم او د محمد کاکا سره کېنستم.

هغوی دواړه داسې ښکاره کېدل چې زما په کیسه پوهېدل غواړي، نو ما هم ورته ټوله کیسه وکړه. خاله ژړل، محمد کاکا هم ډېر زیات خواشینی شو ـ ومې ویل چې نور مې هېڅ د تللو ځای نه لره، مجبوره شوم دلته راغلم. محمد کاکا وویل: «ډېر ښه کار دې وکړ، لورې، کاشکې ډېر وخت مخکې راغلې وې، یو څه به مو کړې وای، دومره تکلیفونه به دې نه زغمل. خو خیر، اوس هم الله مهربانه دی.» خاله هم راته د زړه ډاډ راکړ.

ketabton.com - The Digital Library



لږ وروسته، خاله سبا لپاره ناری تیار کړ، هغه مو وخوړه. محمد کاکا وویل: «لوري، دلته خونشو اوسېدلای شي ځکه دوی دې حتماً دي پیدا کوي.» زه هم دوه میاشتي مخکې دندي نه د عمر زیاتوالي له کبله ګوښه شوی وم .نو زه دلته د اوسېدو لپاره نور هیڅ لامل نه لرم، په ژړغوني غږ مې وویل: «وبخښه کاکاجانه، زما دا امله... تاسو هم ستونزه کې یاست.» خبره مې لانه وه ختمه شوه، خاله وویل: «پام کوه، لورجانې! نور هیڅکله داسې مه وایه. له دې وروسته ».ته زموږ لور یې

محمد کاکا هم وویل: «لورجانې، زموږ په حالت پوهیږې، هېڅ اولاد نه لرو، نه کومه سرمایه او جایداد شته. ما او خاله ژوند په ډېرو سختیو تېرووو. ښایي خدای پاک زموږ ».لپاره رالیږلې یې

د دوی په دې خبرو ډېره خوشاله شوم، زړه کې مې یو ډول حس پیدا شو لکه رښتیا مې خپله کورنۍ درلوده. ما ورته وویل: «ښنګه چې تاسو ماته د یوې لور درجه

ketabton.com - The Digital Library



راکړه، ماته مو خپل کور او زړونو کې ځای راکړ، نن نه وروسته به زه هم د یوې لور په څېر ستاسو خدمت کوم.«
خاله محمد کاکا ته وویل چې د تللو لپاره باید یو ځای پیدا کړو، کېدای شي هغوی ژر پوه شي چې ډېوه دلته ده، نو له دې مخکې چې هغوی خبر شي باید له دې ځایه لاړ شو.

محمد کاکا لږ فکر کولو وروسته وویل: »زه یو دوست لرم چې کابل کې اوسیږي، زه به ورسره نن خبرې وکړم. تاسو ټول شیان تیار کړئ، هلته به لاړ شو ځکه هغه دې ځای نه ګوښه دی.«

دا ورځ مو په شیانو ټولولو تېره شوه. ځکه چې خاله او کاکا یواځې دوه تنه وو، نو شیان ډېر کم وو، یواځې ضرورت وړ شیان مو ټول کړل، نور شیان کاکا وپلورل.شپه مو ټوله کار سم کړ. ټوله شپه مې مور او شبنم په فکر کې وې، ډېر مې یادېدې. کاشکې مې یو ځل ورسره لیدلي وای، معلومه نه وه چې کله به بیا هغوی وینم که نه، ځکه له هغوی لېرې د داسې منزل په لور تللم چې پای یې هېڅ معلوم نه وو.داوښکو سره مې شپه تېره شوه. د سهار اذانونو سره مو موټر کې شیان واچول او

ketabton.com - The Digital Library



حرکت مو وکړ. همدا ورځ او شپه مو په سفر تېره کړه. سهار لس بجې شاوخوا کابل ته ورسېدو. محمد کاکا د ملګري کور ته ورسېد، بشیر کاکا مخته راوتلی وو. روښانه څېره یې وه، درنګ نه ډېر عاجز او پوه انسان ښکارېده.

هغه سره روان شوو، یو لوی اپارتمان وو څلورم منزل، هغوي پکې اوسېدل. ورغلو، یوه په عمر پخه ښځه راغله، ښه راغلاست یې وکړ او ستړي مشي مو وویله. په یوه کوټه کې کیناستلو. ډېر ښکلی او منظم کور وو، هر څه یې عصري وو.

داچې هغوي یو بل سره ستر اوپرده نه لرله، نومعلومه وه چې ټینګې اونژدې اړیکې لري. چای نه وروسته په همدې فکر کې وم چې اوس به د کورنۍ نور غړي راشي، چې د خاله په غږ مې وروکتل

خاله وویل چې بشیر کاکا د محمد کاکا د ماشومتوب ملګری دی. دواړو ډېر ښه وخت تېر کړی دی. هغه یوازې یوه

ketabton.com - The Digital Library



لور او یو زوی لري، چې لور یې واده شوې او ایټالیا کې ژوند کوي، زوی یې هم لندن ته د درس لپاره تللی دی.

بشیر کاکا او مېرمن یې یوازې دلته ژوند کوي ځکه دلته د موټرونو شرکت لري. ځان سره مې وې ویل کاشکې نور اولادونه یې هم لرلای. دومره ښکلې کور کې یواځې دوی دواړه اوسیږي.

د بشیر کاکا ښځه چې نوم یې فریده وو، وویل: «تاسو ډېر مزل کړی، ستړي شوي یاست، استراحت وکړئ.»

خاله وویل: «سمه ده خورجانې، په حقیقت کې هم ستړي یو.»

محمد کاکا او بشیر کاکا لاړل مېلمستون ته، موږ همدلته سملاستو. داچې ټوله شپه مو مزل کړی و، نو سمدلاسه خوب راغی.
غرمه ډوډۍ وخت کې فریدې خاله غږ وکړ، ټولو یو ځای ډوډۍ وخوړه.

ketabton.com - The Digital Library



ډوډۍ نه وروسته له کوټې راووتلم، لږ کور کې وګرځېدم، بالکن ته مې فکر شو ورغلم، هلته درې څوکې او یو مېز پروت و. شاوخوا ټول کورونه او ښار ګڼه ګونه ښکارېده.

په هماغه څوکه کې کیناستم، د خپل ژوند په فکرونو کې ډوبه شوم. باور مې نه کېده چې د هغه دوزخ نه راوتلې یم. له یوې خوا خوشاله وم، خو له بلې خوا مې مور او شبنم په اړه فکر کاوه چې څنګه به وي.

تقریباً دوه ساعته شاوخوا کې کیناستم، بیا کوټې ته راغلم.بشیر کاکا، محمد کاکا، خاله او فریده خاله ناست وو، زه هم ورغلم. خاله څنګ کې کیناستم، چې بشیر کاکا وویل:

لورجانې، محمد کاکا دې مور ته ستا په اړه هرڅه وویل.» لورې ته ډېره باهمته نجلۍ یې. زموږ افغانانو کې ډېرې کمې نجونې شته چې د ظلم په وړاندې ودریږي، او تادومره همت کړی ، ډېر ښه دې وکړل. انشاءالله هرڅه به ښه شي.«

ketabton.com - The Digital Library



د دې خبرو اورېدو سره مې زړه کې یوه خوشالي پیدا شوه، ځکه ما فکر کاوه چې زما دا کار به ټولو ته بد ښکاره شي، خو هغوی چې دومره ډاډګیرنه راکړه، بې اندازې خوشاله شوم. سترګو نه مې اوښکي توي شوې.

فریده خاله وویل: «لورې، مه ژاړه، پوهېږو چې سخته ده، خو پیاوړې اوسه، هرڅه به سم شي، خدای لوی دی.»

اوښکې مې پاکې کړې او مې وویل: «ډېره مننه ستاسو دا ډاډګیرنه او محبت به هېڅکله هېر نه کړم. الله دې تاسو راضي وساتي.»

فریده خاله وویل: «لورې، داسې مه وایه، ته مونږ ته هم د خپلې لور په څېر یې.»

هغه ورځ تېره شوه، شپې ډوډۍ نه وروسته محمد کاکا بشیر کاکا ته وویل چې سهار به د کور پیدا کولو لپاره لاړ شو، چې بشیر کاکا ورته وویل: «هیڅ اړتیا نشته، دا کور لوی دی، همدلته به اوسېږي.»خو محمد کاکا ونه منله. وروسته بشیر کاکا وویل:

ketabton.com - The Digital Library



زموږ اپارتمان څنګ ته یو وړوکی کور دی، ستاسو»
استوګنې لپاره مناسب دی. سبا به یو ځل وګورو، که خوښ
«.مو شو هلته به اوسیږې. داسې به یو بل ته نژدې هم یو

محمد کاکا هم ومنله. په سبا ټوله ورغلو او کور مو وکتلو.
ښایسته، وړوکی، پوښلی کور وو، درې کوټې، یو پخلنځی
:او یو هال یې درلود. محمد کاکا او خاله وویل
څنګه لورجانې، خوښ دې شو که نه؟ که نه بل به»
«.وګورو

:ما وویل
نه کاکاجانه، ډېر ښایسته او مناسب کور دی. که ستاسو»
«.خوښ وي، زما هم خوښ دی

هغوی هم خوښ شول. بشیر کاکا دوه تنه کارګر راوستل او
زموږ د کور شیان چې د بشیر کاکا په ګودام کې پراته وو،
راوړل. بشیر کاکا د محمد کاکا په ټینګار ولاړ، خپل
.شرکت ته، موږ هم د کور په تیارولو بوخت شو

ketabton.com - The Digital Library



د غرمي ډوډۍ فريدې خاله راوړه، هغه مو وخوړه. شپې ته مو ټول شيان ځای په ځای کړل: يوه کوټه د محمد کاکا او خاله لپاره، بله د ميلمنو لپاره او بله کوټه زما لپاره سمه کړه. که څه هم محمد کاکا ډېره غوښتل چې زما کوټې لپاره تخت او نور شيان واخلي، خو ما ونه منله ځکه چې نه مې غوښتل بې ځايه لګښت وشي. ساده کوټه مې وه، خو ډېره ښه او ارامه وه.

شپې ته هم بشير کاکا راغی، ډوډۍ مو خوړه، بيا مې بشير کاکا ته وويل:

«زه غواړم درسونه مې شروع کړم، خو زما هېڅ اسناد ماسره نشته ځکه چې دولسم ټولګي مې ختم نه کړی، زه تری پاتې شوی يم.»

بشير کاکا راته وويل: «ته هيڅ اندېښنه مه کوه، زه به سبا څو ځايه پوښتنه وکړم او خامخا به دې لپاره يوه لاره پيدا کړم.»

ما ورته له زړه مننه وکړه.

شپه ناوخته پورې بشير کاکا او فريده خاله له موږ سره وو، بيا خپل کور ته لاړل.

ketabton.com - The Digital Library



دری ورځې وروسته بشیر کاکا وویل: «ما یوې لیسې له مدیر سره خبرې کړي، ان‌شاءالله څو ورځو کې به دې شهادت‌نامه چمتو شي.» دا خبري په اورېدو، ډېره خوشاله شوم، خو پوهېدم چې کانکور ته یواځې دوه میاشتې پاتې دي، باید ژر تر ژره د امادګۍ لپاره اقدام وکړم.

محمد کاکا سره مې مشوره وکړه، هغه هم په خوښۍ سره ومنله.
په سبا مو ږ دواړه لاړو، د کانکور امادګۍ لپاره مې نوم‌لیکنه وکړه او درسونه مې پیل کړل.
څو ورځې وروسته شهادت‌نامه هم جوړه شوه، که څه هم پوهېدم چې دا کار د پیسو پرته نه ترسره کېږي، خو بشیر کاکا راته وویل: «نور ته هیڅ فکر مه کوه، یوازې دې په سبق ویلو تمرکز کوه.»

ما هم له زړه نه هڅه پیل کړه. شپه او ورځ مې په زده‌کړه تېریدلې.
محمد کاکا، خاله، بشیر کاکا او فریده خاله دومره راسره مرسته کوله چې زه به کله کله حیرانه شوم، څنګه یو څوک

ketabton.com - The Digital Library



د یوې پردۍ نجلۍ سره دومره مینه او خواخوږي کولی شي؟
هغوی نه یوازې دا چې ماته یې د اوسېدو ځای راکړی و، بلکې د زړونو ځای یې هم راکړی و.
خاله به نه پرېښودلم چې کوم کار وکړم، یوازې به یې ویل:
«زما لور جاني، ته باید یوازې سبق ووایې»

بشیر کاکا راته یو کمپیوټر راکړی و چې وکولای شم له هغه څخه د درسونو لپاره استفاده وکړم. همداسې، دوه میاشتې په تېزۍ تېرې شوې. هغه ورځ چې د کانکور ازموینه وه، نه یوازې زما لپاره، بلکې د ټولو لپاره د تشویش نه ډکه ورځ وه. خو بالاخره مې ازموینه ورکړه. الحمدلله، نتیجه مې هم ښه وه، ځکه دا دوه میاشتې مې شپه او ورځ یوازې درس ویلي وو.

وخت تېرېده، خو د کانکور پایلې لا نه وې اعلان شوې. غوښتل مې یو کار پیدا کړم، ځکه محمد کاکا ورځ تر بلې کمزوری کېده او نور یې د کار کولو وس نه درلود. زموږ مالي حالت هم ورځ تر بلې خرابېده، پیسې مو د ختمېدو په حال کې وې.

ketabton.com - The Digital Library



هلته، د کانکور د امادګۍ په کورس کې مې څو ملګرې پېژندلې وې. یوې ملګرې، چې پلوشه نومېده، یوه ورځ راغله او ویې ویل:
زما خور یو شخصي کورس کې ښوونکې وه، لسم ټولګي» پورې یې ساینسي مضامینو کې نجونو ته تدریس کاوه، خو اوس یې واده کیږي. که وغواړې، زه دې له ادارې سره خبرې وکړم، کېدای شي تازما د خور په ځای ومنې.«

دا چې هغه کورس زموږ کور ته نږدې و، نو خوشاله شوم. هماغه شپه مې محمد کاکا سره مشوره وکړه. که څه هم هغه زما له کار کولو سره چندان خوښ نه و، خو زما په ټینګار یې بالاخره اجازه راکړه.
شپه وه، محمد کاکا بشیر کاکا ته زما د کار په اړه وویل. بشیر کاکا ډېر خوښ شو، او زه یې په مینه او اخلاص ډېره تشویق کړم.

څو ورځې وروسته، د کانکور د نتایجو د اعلان ورځ راورسېده. زه د پلوشې دوی کره لاړم، څو هلته له انټرنټ څخه خپلې نمرې وګورم. د انتظار شېبې مې ډېرې درنې

ketabton.com - The Digital Library



وې، لاسونه مې له استرسه رېږدېدل. بالاخره، پلوشې لومړی خپلې نمرې وکتلې ــــطب ته بریالۍ شوې وه! له خوشالۍ نه یې چیغې وهلې، ژر یې مور ته زېری ورکړ، خوله کې یې خوښي نه ځایېده.

بیا یې زما نمرې وکتلې... څو شېبې غلې شوه، سترګې یې پراخې شوې، خوشالي یې د سترګو له اوښکو ښکاره وه.

وېې ویل: «وای ډېوې، ته هم طب ته بریالۍ شوې یې!»

ما باور نه شو کولای. د خوښۍ نه مې سترګې ډکې شوې، یوه بې اختیاره چیغه مې له خولې ووتله. ژر مې پلوشې ته خدای پامان وویل او په منډه روانه شوم کور ته. زړه مې ناقراره و، غوښتل مې محمد کاکا او خاله ته ژر زېری ورکړم. زما لپاره دا لحظه د هغو ټولو هیلو او خوبونو پوره کېدل وو، چې کلونه کلونه مې د زړه په تل کې پاللي وو.

خو... نیمه لار کې ناڅاپه د مور او شبنم یاد راغی. سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. دا څو میاشتې مې خپل زړه

ketabton.com - The Digital Library



داسې کلک کړی و، چې نه مې غوښتل د تېر وخت یاد وکړم. خو نن... نن مې زړونه پرې وسوځېدل. له ځانه سره مې وویل:«مورجانې... کاشکې ته راسره وای. کاشکې نن دې لیدلې وای، چې ستا لور د خپل پلار هیله پوره کوي. کاشکې زما هم لکه د نورو یوه خوشاله کورنۍ وای، چې دا شېبه راسره شریکه کړي.»

لکه لېونۍ، خپل ځان سره مې خبرې کولې، او اوښکې مې بې اختیاره تویېدلې.

خو کله چې کور ته نژدې شوم، ځان ته مې وویل: «خېر، که زما اصلي مور و پلار نشته، دلته مې دوه کورنۍ پیدا کړې دي. دوه میندې لرم، چې زما په بریا د خپل اولاد په شان خوشالیږي.»

اوښکې مې پاکې کړې، ساه مې راواخیسته، او کور ته ورننوتم.
محمد کاکا او خاله ناست وو، داسې ښکارېده چې زما په تمه وو، خو کله چې یې زما ژړلې سترګې ولیدلې، دواړه وارخطا شول. خاله ژر پوښتنه وکړه:

ketabton.com - The Digital Library



«څه شوي لورې؟ نمرې دې ځنګه وې؟»

ما چې د دوی وارخطايي ولیده، غوښتل مې ورسره لږ ټوکه وکړم. غلي، خفه ورته لاړم، کیناستم او هېڅ مې ونه ویل. خاله او محمد کاکا یو بل ته اندېښمن وکتل. محمد کاکا په نرم غږ وویل:
«خیر لورې، اندېښنه مه کوه، هر څه چې خدای کوي، هماغه کې خیر وي.»

ورپسې مې ناڅاپه په خوښۍ سره وویل:
«طب ته بریالۍ شوې یم!» اوپه لوړ غږ مې وخندل.

خاله ژر زما خواته راغله، په غېږ کې یې ونیولم، له خوښۍ یې ژړل. محمد کاکا وخندل او وې ویل:
«لورې، تا خو زموږ زړه ودروه! داسې ټوکې هم څوک کوي؟»

ما د محبت له احساسه ډک لاسونه د محمد کاکا ښنکل کړل، هغه هم زما پر سر لاس تېر کړ.

ketabton.com - The Digital Library



خاله ته مې وویل:
«دا څه دي خاله؟ اوس د خندا او خوشالۍ وخت دی، ته ولې ژاړې؟»
غېږ کې مې ونیوله. رښتیا هم، خاله او محمد کاکا ما ته د مور او پلار غوندې وو. هغوی راته د اصلي لور په څېر مینه راکوله.

بیا مې محمد کاکا ته وویل:
«کاکا جانه، زه غواړم دا زېری فریدې خالې او بشیر کاکا ته هم ورکړم، هغوی به هم ډېر خوشاله شي.»

محمد کاکا وخندل او وې ویل:
«نه لورې، اوس نه، شپې ته به یې میلمنه کړو، هلته به ورته زېری ورکړو. ټوله به یې په ګډه ولمانځو.» ما اومحمدکاکابښار ته لاړو، سودا مو وکړه، شپې مو بشیر کاکا او فریده خاله میلمانه کړه. کله چې هغوی خبر شول، ډېر خوشاله شوه.

ketabton.com - The Digital Library



وخت تېرېده. پوهنتون پیل شو، زه ډېره خوشاله وم. خو زما د کار پیسې ډېرې کمې وې، باید یو مناسب کار پیدا کړم چې د پوهنتون او کور لګښتونه پوره کړم.

څو کاله مخکې مې د جامو ګنډلو په کارګاه کې کار کړی و، نو د طراحي تجربه مې درلوده. له خاله او محمد کاکا سره مې دا موضوع شریکه کړه. خاله خوشاله شوه او وې ویل:
«له دې نه بله ښه خبره نشته! زما هم یو څه ګنډل زده دي کور کې مې هم زړه تنګیږي، دا کار به دواړو ته ښه شي.»

زما سره چې یو امېل پاتې و، هغه مې خرڅ کړ او د اړتیا وړ وسایل او رختونه مې پرې واخیستل، څو خپل وړوکې پیل کړم...
درې میاشتې مې پرلپسې کار وکړ، له خالې سره مې د لسو جوړو جامو ډیزاین او ګنډنه وکړه. بیا مې یې انلاین بازار ته عکسونه ولیږل. د حیرانتیا خبره دا وه چې جامې په لوړ قیمت وپلورل شوې. دا زما لپاره نه یوازې یو مالي بری و، بلکې د باور او هڅې نښه هم وه.

ketabton.com - The Digital Library



همداسې مې د جامو ګنډلو او خرخولو کار مخ ته بوت. خو ډېرى وخت مې لا هم زده کړو ته ځانګړى کړى و، ځکه نه مې غوښتل چې د کار په خاطر درسونه مې شاته پاتې شي. وخت تېرېده ... درې کاله وروسته زموږ کاروبار ډېر پراخ شوى و.

زموږ کور مو يو ډول کارګاه ته ورته شوى و. د کور يوې برخې کې مو جامې خرخولې او په بله برخه کې لسو ښځو کار کاوه. دا ټولې ښځې ډېرې غريبې وې، خو زړورې او کاردوسته وې. خاله مې هم ډېر وخت زموږ سره وه، هغوى يې څارل او مرسته به يې کوله.

په هغو ښځو کې يوه کلثوم نومې، هوښياره او مهربانه نجلۍ وه. ما هغه د کارګاه د مرستيالې په توګه ټاکلې وه. ټول حساب، د کار تنظيم، او د مېرمنو اړتياوې به يې برابولې. هره اونۍ په پای کې به مې ورسره د خرڅلاو اوکارونو حساب کاوه.

همدا کار مو دومره پرمختګ وکړ چې بالاخره مو د بشير کاکا د کور څنګ ته يو ښکلى کور واخيست. کور درې

ketabton.com - The Digital Library



کوټې، یو سالون او پخلنځی درلود، سالون هم دننه جوړ شوی و. د کور ټول وسایل مې نوي واخیستل، د خپلې خوښې او ذوق مطابق مې کور ډېر ښکلی جوړ کړی و —— داسې یو ځای چې هم آرام، هم عزت، او هم خوښي پکې وه.---

ژوند مې څنګه چې ما تصور کړی و، له هغه نه هم ډېر ښه روان و، خو بیا هم هېڅکله بشپړه خوشالي نه وه. د مور او شبنم یاد به مې له زړه نه وتلو. هره شپه به د دوی په یاد تېرېده —— دا یادونه مې د زړه تل کې وه.---

دوه ورځې مې د بشیر کاکا په کور کې تېرې کړې، ځکه فریده خاله ناروغه وه. نه مې شوای کولی چې هغه یواځې پرېږدم. هلته مې یوه کوټه خپله هم وه، نیمي جامې او شیان مې هم همدلته و، ځکه چې کله ناکله به د خالې زړه زما لپاره تنګیده، نو به یې راغوښتم. دا کوټه یې ماته ځانګړې کړې وه.

اوس چې ناروغه وه، زه هم له هغې سره پاتې کېدم، ترڅو دوا او خواړه په وخت ورکړم. د جمعې ورځ وه، سهار وختي راپاڅېدم، ژر مې ناری تیار کړ، میز مې برابر کړ.

ketabton.com - The Digital Library



په همدې وخت کې بشیر کاکا او فریده خاله له کوټې راووتل. د دواړو پر مخ خوږه مسکا وه. و مې ویل:
!ـ واه خاله جاني، نن خو ډېره خوشاله ښکاري

هغې له خوشحالۍ ډک غږ کې وویل:
ـ هو لورجاني، تېره شپه مې دخپل زوي جان زبیر سره خبرې وکړې. یوه اونۍ کې ټول کارونه خلاصوي او د تل لپاره راځي. بېنهایه خوشاله یم!

ـ و مې ویل: سترګې مو روښانه خاله جاني! رښتیا هم ډېر ښه خبر دی، بالاخره له څو کلونو وروسته به مو زوی بېرته درسره وي. راځئ چې ناری وکړو.

بشیر کاکا د تیار شوي میز په لیدو وویل:
ـ لورجاني، ستا دومره مینه او زحمت ته موږ هېڅکله بدله نشو ورکولی.ما وخندل او ورته مې وویل:
ـ کاکاجانه، دا څنګه خبرې کوئ؟ تاسو په دې خبرو مانوره هم خجالته کوی. زه خو لا هم ستاسې د مهربانۍ وړ نه یم. تاسې ماته نه یوازې کور راکړ، بلکې زړونه مو هم

ketabton.com - The Digital Library



راکړي. زه له تاسې سره ځان د خپل کورنۍ غړی احساسوم.

خاله موسکا وکړه او ویې ویل:
- نه لورجاني، دا هر څه ستا د ښو ځانګړتیاوو برکت دی. باور وکړه، له هغې ورځې چې ته زموږ ژوند ته راغلې، ما د خپلې لور نشتون هېڅ احساس نه کړی. تا زموږ کور ته دومره خوښي راوړې ده چې د ژوند خوند مو بېرته پیدا کړی دی. مخکې به زه او کاکا دې بیخي یواځې وو، ژوند خالي او بې‌مفهومه و، خو ستا په راتګ سره موږ ته لکه نوې کورنۍ پیدا شوه.

محمد کاکا هم وویل:
- خاله دې ربښتیا وایي، لورجاني. ته موږ ته د خپلې لور ښکلا ارزښت لرې، دا ټول ستا د خالصې مینې، قدر او وفادارۍ نتیجه ده.

د دوی له خبرو سره سترګو ته مې اوښکې راغلې، له ژور احساسه ډکې. خوله مې په زوره وخوځوله:
- زه ډېر خوشبخته یم چې خدای پاک ماته ستاسو په څېر مهربانه کورنۍ راکړه.

ketabton.com - The Digital Library



فریدې خاله غېږ کې ونیولم. د هغې له غېږې، د هغې بې‌ساري مینې احساس مې کاوه چې رښتیا هم مې خپل مور او پلار بېرته موندلي. زړه کې مې له خدایه ژوره مننه وکړه چې زه یې د دومره خوږو انسانانو سره مخ کړم.

اوښکې مې پاکې کړې، له غېږې څخه یې لرې شوم، موسکا شوم او په ټوکه مې وویل:
ـ وګورئ خاله جاني، زما ټوله زحمت هسې لاړ، چای خو بیخي یخ شو!

بشیر کاکا وخندل:
ـ نه لورجاني، لا هم ګرم دی. راځئ، سباناری وکړو!

وروسته له دې، بشیر کاکا د کور سودا ته ووت، زه پاتې شوم. فریدې خاله ته مې دوا ورکړه، بیا مې لوښي ومینځل، کور مې پاک کړ، او بیرته خپل کور ته لاړم.هلته محمد کاکا او خاله ناست وو. سلام مې وکړ، خاله ژر راغله، غېږ کې یې ونیولم او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



ـ هله راشه لورې، نن مې ستاد خوښې ځانګړې کیک پخ کړی. غوښتل مې چې دروړم، خوشحاله شوم چې ته پخپله راغلې.
ومې ویل:
ـ واه خاله! مسافري هم ښه وي، اوس وګوره څنګه درته ګرانه شوې یم!

خاله په غوصه راته وکتل او ویې ویل:
ـ غلې شه! اوس به مې زړه دربانديې تش کړی وي. څو ورځې کیږي چې ته کور پرېښی، کور کې دومره چوپتیا ده چې زړه مې بیخي تنګ شوی.

ومې ویل:
!ـ قربان له خپلې خاله شم، څومره راپسي خفه شوې یې

خاله د کیک خوا ته لاړه. زه د کاکا څنګ کې کیناستم، کاکا وخندل او ویې ویل:
ـ لورجاني، خاله دې دا ځل ډېره غوصه ده، دومره حساسه ده لکه د فریدې ترور، حسادت کوي. وایي هغې سره یې سات تېر دی، زه یې بیخي هېرې شوې یم!

ketabton.com - The Digital Library



د دې خبرو په اورېدو دواړو خندا وکړه. هماغه وخت خاله راغله، کیک او چای یې راوړل.

ومې ویل:
ـ کاکاجانه، زما هم زړه دلته دی، خو فریده خاله یواځې نه شم پرېښودلای. خپله پوهیږې، د هغې ناروغي سخته ده، باید ډېره پاملرنه ورته وشي.

کاکا وویل:
ـ هولورجاني، هغه یواځې مه پرېږده، کور کې ځوک نشته. هسې نه خدای مه کړه څه پرې ونشي، ځکه بشیر کاکا خپل کار ته تللی دی.

زه تر غرمه هم هلته وم. وروسته بیا بشیر کاکا دوی کور ته راغلم. څو ورځې تېرې شوې، کله ناکله به یو ساعت لپاره خپل کور ته تللم، خو زیات وخت مې فریدې خاله سره تېراوه.

ketabton.com - The Digital Library



د پنجشنبې ورځ وه، پوهنتون نه وروسته کارګاه ته لاړم، ځکه هر پنجشنبه مې د کلثوم سره د کارګاه حساب کتاب په اړه خبرې کولې. خاله هم هلته وه.

غرمه مې هلته ډوډۍ وخوړه. غرمه نه وروسته کور ته راغلم.د بشیر کاکا کور کې فریده خاله ناسته وه، تسبیحات یې کول. زه هم ورغلم، جامې مې بدلې کړې او چای مې تیار کړ. ما اوفریدې خاله چای څښل.

فریده خاله وویل:
ـ نن دې خاله او محمد کاکا هم راوغواړه، شپې ډوډۍ ټول به یوځای وخورو.

زه خوښه شوم. خاله ته مې زنګ ووهه چې شپې لپاره څه پاخه نه کړي. وروسته لاړم پخلنځي ته، شپې لپاره مې خواړه پخول.

فریده خاله هم راسره ناسته وه، هغې هم راسره څه مرسته کوله. خواړه مو پاخه کړل. خوشپې ته لا وخت وو، نو ما او خاله سالون کې کیناستو.

ketabton.com - The Digital Library



[10/26/2025, 2:43 PM] jawidkhan: ما اوفریدې خاله مجلس کوو ومې ویل :خاله تاوبشیرکاکا څنګه یوبل سره واده وکړ ،خاله راته وویل:
- زه کلیواله نجلي وم ما په پېغلتوب کې ډېر ښایسته اتنونه کوله.

یوه ورځ زماد اکادزوی واده وو، ما هغه واده کې اتڼ کاوه. هلته دې بشیر کاکا ولیدم، اوخوښنه یې شوم. بیایې جرګه راولیږله زماهم خوښ وو ځکه هغه درسونه ویلي وو ښار کي اوسیده نوځکه زماکورنی هم ومنله .

ما ویل:
- واه، ستاسو واده هم  په خوښنه شوی؟

خاله وویل:
-. هو

ما وویل:
-. زما خو هیڅ اتڼ زده نه دی، هېڅ هم نشم کولای

ketabton.com - The Digital Library



خاله وویل:
ـ دانوڅه خبره ده  هله جګه شه! لاوډسپیکر کې سندره ولګوه چې همدا اوس یې درته زده کړم!

ماخندل او ومې ویل:
ـ په دې ناوخته کې ګاونډیان به څه وایي؟

خاله ویې ویل:
ـ پرېږده چې هر څه وایي.

ما هم ومنله. ورغلم، سندره مې پلی کړه او آواز مې جګ کړ. خاله راته اتڼ ښودل پیل کړ.

فریده خاله ناروغه وه، نو ورو ورو یې راته ښودله. خو زما اول ځل وو،نو ځکه هیڅ مي نشو کولای کله به چپه خوا ته لاړم، کله وروسته. دا ځل د پښو اړولو وخت کې لاندې ولوېدلم. په ځان مې ډېر وخندل. خاله هم د خندا نه شنه شوې وه.

ketabton.com - The Digital Library



همدې وخت کې بشیر کاکا راغی، شاته یې بل هلک هم ښکاره شو. ما هغه هلک په عکسونو کې لیدلی وو، نو پوه شوم چې دا د بشیر کاکا زوی زبیر دی.

خو د خاله شا وه، نو هغې نه لیدل، او د سندرې آواز دومره جګ وو چې د دوی هیڅ غږ مو وانه ورېده. هغوی دواړو حېران راکتل. زه په بېړه پورته شوم، خاله ته مې اشاره وکړه او ومې ویل:

ـ خاله، هلته وګوره!

کله چې خاله هغوی ته وکتل، په زوره یې چیغه کړه او ورغله. زوی یې په غېږ کې ونیو. زه هم ورغلم او سندره مې بنده کړه. خاله او زوی یې یو بل په غېږ کې نیولي وو، دواړه د خوشالۍ نه ژړل. څو شیبې وروسته جلا شول. ما هم ورته ستړې مشي وکړه او ټول کیناستل.

همدې وخت کې محمد کاکا او خاله هم راغلل هغوی وویل:
څنګه داسي ناڅاپه راغلی یې زویه؟ زبیر وویل:
ـ ددې لپاره هیڅ زنګ ونه وهه ، غوښتل مې مور او پلار مې په ناڅاپي لیدو خوشحال شي، نو همداسې راغلم.

ketabton.com - The Digital Library



يو ځل مې پلارجان شرکت ته ورغلم، هغه مې ولیده، بیا دواړه دلته راغلو، خو کله چې د سندرې لوړ غږ مې واوریډ، ما او پلارجان دواړه حیران شوو چې څه خبره ده. کله چې کور ته راغلو، سم اتڼونه شروع وو.

بشیر کاکا دومره وخندل کله چې يې زما د اتڼ او لوېدلو کیسه کوله. ما هم له شرمه کښته کتل، ځکه په رښتیا هم ډېره جالبه وه —— ناوخته کې د سندرې لوړ غږ او زما بې ځایه اتڼ! فریدې خاله ورته له سره کیسه وکړه چې څنګه يې اتڼ ته زړه ښه شو. محمد کاکا، خاله او زبیر ټولو ډېر وخندل، خو ټول خوشحال ښکاره کېدل. فریده خاله به هره شېبه زوی په غېږ کې نیوه او ښکلوه يې، بشیر کاکا هم له مسکا ډک و. د دوی په لیدو مې خپله مور او شبنم ډېر یاد شول.

پاڅیدم اوکوټې ته لاړم ښه ډېر مي وژړل وروسته مې اوښکې پاکي کړې، بیا مې مخ ومینځه چې هغوی په سترګو پوه نشي. بیرته ورغلم، هغوی خبرې کولې، زه هم لاړم ډوډۍ مې تیاره کړه او راوامي خیسته. ټول ډېر خوشاله وو.

ketabton.com - The Digital Library



شپې ناوخته محمد کاکا او خاله کورته ولاړل، زه هم ورسره لاړم. که څه هم فریدې خاله نه پرېښودم، خوما وویل:
- نه، اوس شکر ته ښه یې، او زبیر هم درسره دی، نو زه هم ځم.

هغې هم ومنله. موږ خپل کور ته راغلو، شپه تېره شوه. سهار خاله وویل:
- ورشه، فریده خاله ناروغه ده او زوی یې هم مېلمه راغلی، بده ده چې کار وکړې. ورته سباناري تیار کړه.

که څه هم زړه نازړه وم، ځکه زبیر راته پردی شان ښکاره کېده، خو کله چې ورغلم، فریده خاله هم پخلنځي کې وه او چای یې جوړول غوښتل. زما په لیدو ډېره خوشاله شوه او ویې ویل:
- لورجاني، ته څو ورځې دلته وې، اوس مې بیخي درسره عادت کړی وو. چې سهار پاڅیدم ته نه وې، زړه مې بد شو.

ما وخندل او ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



ـ ته هم اوس بوډۍ شوې يې، ګوره دومره ژر زړه مه بدوه.
داخوورځي ټول کارونه ما کول، اوس نو تا نازونه هم شروع کړې، ځکه دې اوس کار ته زړه نه کيږي.

هغې وخندل او ويې ويل:
ـ هو والله، تا ډېره بده عادت کړم!
و مې ويل: «ته لاړه شه.» لږ وروسته کاکا دوي باندي غږ وکړه: «زه خپله چای ژر ژر تياروم.» هغه لاړه، ما سباناري تيار کړ او په دسترخوان مې کېښوده. هغوی ټول راغلل، سباناری مولا نه وو پيل کړی. محمد کاکا او خاله هم راغلل، کيک او پراټې يې ځان سره راوړې وې. ټولو په ګډه سباناري وکړ.ـ-

ما د کور کارونه وکړل، يو څه وخت کيناستو. بيا محمد کاکا، زه او خاله کور ته راغلو. همداسې وخت تېرېده. د زبير د راتګ نه تقريبا دوه مياشتې تېرې شوې وې. زه به هم کله کله د فريدې خاله د مرستې لپاره ورتلم. زبير ډېر ښه او باادبه هلک وو، هېڅ داسې نه ښکارېده چې بهرنه راغلی وي. نو زه ورسره ډېره راحته وم؛ دواړه ملګرو په

ketabton.com - The Digital Library



ځېر وو. کله به هغوي زموږ کور ته راتلل، کله موږ. ټول مو یوه کورنۍ جوړه کړې وه.

هره جمعه ورځ به ټول یو ځای چکر ته تللو، وخت مو په خوشحالۍ تېریده. خو زما مور او شبنم مې هېڅکله هېرې نه شوې. هر کله به چې خوشاله کېدم، هغوی به مې یادېدل چې څه کوي او څنګه دي. نو زما په خفګان ټول پوهېدل.

یوه شپه محمد کاکا او خاله راته وویل: «لوري، موږ په دې اړه خبرې کړي دي. پوهېږو چې هر څومره مینه درکوو، بیا هم ستا د مور ځای نه شو نیولی. نو که ستاخوښه وې، راځه چې د مور او خور لیدو ته ولاړ شو. هغوی به ووینې چې څنګه دي او څنګه ژوند کوي.»
او پاتې شوه ستا د خاوند کیسه. اوس هغه پخوانۍ ډیوه نه یې، ته دومره پیاوړې شوې یې چې خپل د ځان ساتنه خپله کولای شې. نو د دې سره به د هغه سړي له غمه هم خلاصه شې. هغه نکاح که څه هم یواځې د نکاح په نوم وه، خو بیا هم ته د هغه سړي مېرمن یې. نو دا به ښه وي چې ورشو او ته خپل طلاق واخلې. له خوښۍ نه مې سترګو ته اوښکې راغلې، وی مې ویل: «سمده کاکا جانه،

ketabton.com - The Digital Library



دې نه ښه خبره نشته، همدا سبا ځو.» کاکا وویل: «سمه ده، خو ته پوهېږې زه ډېر کمزوری شوی یم او دا طلاق خبرې دومره ساده خبره نه ده. نو باید د بشیر کاکا سره خبرې وکړو، هغه به درسره ځي. هغه هلته ډېر شناخت لري، ډېر وکیلان پېژني، نو ته به بشیر کاکا سره لاړه شې.» ومې ویل: «سمده کاکا جانه، هرڅنګه چې ستاسو خوښه وي.» ټوله شپه مې په فکرونو تېره کړه. سبا خاله وخته پاڅولم، سباناري مو وکړ، څو جوړه کالي او ضروري شیان مې بکس کې واچول. دې وخت کې بشیر کاکا، فریده خاله او زبیر هم راغلل. داسې ښکارېده چې ټوله وخت یې په دې اړه خبرې کړي دي. ډېره خوشاله شوم چې هغوی زما په اړه دومره فکر کوي او زما خیال ساتي. بشیر کاکا وویل: «لوري، تیاره یې؟ له خیره حرکت وکړو؟» وی مې ویل: «هو.»خاله او فریده خاله دواړو ژړل. ومې ویل: «تاسې ولې ژاړي؟ زه خو څه امریکا ته نه ځم، یواځې څو شپې ځم.» خاله مې غېږ کې ټینګه ونیولم او ویې ویل: «یواځې پنځه شپږ شپې به وي، ببېرته به ژر خپل کورته راځې. دا کور پرته له تاسو هیڅ نه دی.» ومې ویل: «سمده زما ګراني خاله جاني، زه کله تاسو پرېښوداى شم؟ یواځې ځم، مور او خور مې وینم،

ketabton.com - The Digital Library



ببرته ژر راځم. زما کورنۍ تاسو یاست، زما کوردا دی.»
فریدې خاله هم دعاوې راته کولې او وی یې ویل: «په ځان پام کوه» خدای په اماني مو وکړه

موټر ته پورته کېدم چې زبیر راغلی، خپله شمېره یې راکړه او وی یې ویل: «دا واخله، هر څه ته اړتیا وي، هماغه شیبه زنګ ووهه یا کومه خبره وشوه، زه هم هغه شیبه درځم، هېڅ تشویش مه کوه.» دې خبرو سره لکه ټوله نړۍ ماسره وه. مننه مې ترې وکړه، موټر ته پورته شوم او حرکت مو وکړ.
ټوله ورځ مو سفر وکړ، او شپې ته ښار ته ورسېدو. که څه هم زموږ کلي ته نژدې وو، خو بشیر کاکا نه غوښتل چې لومړی هلته ولاړ شو. نو ښار کې یې په یوه هوټل کې یو اتاق کرایه کړ. شپه مو هلته تېره کړه.

سهار بشیر کاکا وویل: «زه به د دې هوټل مالک سره خبرې وکړم، زما ورسره پخوانی پېژندګلوي ده. هغه به په تا پاملرنه وکړي، ته همدلته اوسه.» ما هم ورسره ومنله.

ketabton.com - The Digital Library



زه په اتاق کې پاتې شوم. زبیر هم زنګ ووهه او هغه سره مې خبرې وکړې. غرمې نه وروسته بشیر کاکا راغی او ویې ویل: «ستا ورونه هم هلته دي، خو خور دې واده شوې او دلته ښار کې اوسېږي. د خور د کور پته مې واخیسته. نو غوره ده چې لومړی خور سره وګورې، داسې به هر څه معلوم شي او د مور د لیدو لپاره به هم لاره پیدا کړو.»

زه خوشاله شوم ځکه دا ښه وه چې لومړی شبنم سره ووینم. نو په خوشالۍ مو حرکت وکړ. څو ځایه مو پوښتنه وکړه او مازدیګر مې د خور کور پیدا کړ.

بشیر کاکا موټر ودراوه. موږ کښته شو، دروازه مو ټک ټک کړه، خو زه په عجیبه حالت کې وم. زړه مې په زوره درزا کوله، ځان سره مې ویل چې هغه به څه وکړي، زما په لیدو به خوشاله شي که غوصه.

همدې وخت کې دروازه خلاصه شوه، د شبنم خواښې وه. زما په لیدو حیرانه پاتې شوه، هېڅ یې ونه ویل. داسې یې

ketabton.com - The Digital Library



راکتل لکه چې روح ګوري. ما ورته وویل: «خاله، زه دې
.یاده یم؟» هغې په هو ځواب راکړ او سر یې وخوځاوه
ما هم ورته سترې مشې وکړه. هغې وویل: «ډېوې لوري
«.ته دلته هېڅ مې باورنکېږي
په زوره یې چیغه کړه: «شبنم! شبنم! هله راشه!» وروسته
«!یې وویل: «راځه لوري، کورته
«.ما وویل: «میلمه راسره ده

بشیر کاکا زما شا ته ولاړ وو، هغې وویل: «راځئ،
«.میلمه هم زموږ په سر او سترګو ځای لري

زه او کاکا کور ته دننه شو. همدا وخت شبنم هم راغله.
هغه هم داسې حېرانه حېرانه راته کتل. ما ورته وویل:
«.«خورجانې، زه راغلم

شبنم په منډه راغله، غېږ کې یې ونیولم، دواړوموژړل ـ نه
ما خبرې کولای شول، نه هغې. وروسته یو له بل نه جلا
.شوو او یوې کوټې ته یې بوتلو، کیناستو

ketabton.com - The Digital Library



شبنم خوابښې اوبه راوړې، هغه مو وڅیښلې . وروسته شبنم پوښتنه وکړه: «څنګه یې؟ چېرته وې؟ دومره وخت ولې نه وې؟»

ما ورته ویلې: «ښه یم، خورجاني، کابل کې اوسېدم. ته څنګه یې؟ اوښی مي څنګه دی؟

څنګه ده مور مې؟ » هغې وویل: «ټول ښه دي، او مورجانه هم ښه ده. ماسره اوس اوسیږي. اوښي دي هغه اوس بوتله ډاکټرته اوس به ژر راشي.»

دا خبره مې واورېده، دومره خوشحاله شوم چې هېڅ مې باور نه کېده، اوس مې مورجانه ګورم. شبنم لاړه، چای یې راوړ. چای مې څښلو چې مور او اوښې مې هم راغلې.

شبنم مخې ته ورغله او وې ویل: «مورجاني، راځه وګوره، څوک راغلی دی.»

مور مې کوټې ته راغله، باور مې نه کېده چې په دې څو کلونو کې دومره بدلون کړی و. وېښتان یې ټول سپین شوي وو. زما په لېدلو همداسې ودرېده او وې ویل: «ډېوې لوري ته، خپله یې که خوب ګورم؟»

ketabton.com - The Digital Library



«.ما ویل: «نا، زما ګراني موري، زه یم خپله ورغلم، لاس مې ورته ښکلوه خو هغې غېږ کې ټینګه ونیولم، سترګو نه یې اوښکې رواني وې.

همدا خبره یې هره شېبه کوله: «خدایه شکر، خدایه شکر چې زما لور مې جوړه ولیدله.»

وروسته مې اوښې سره سترې مشې وکړه. زه مې مورجاني سره څنګ کې ناسته وم، مور مې زما لاس ټینګ نیولی وو، اوښې او بشیر کاکا دواړه خبرې کولې. ما هم له شبنم څخه پوښتنې کولې.

زما د تللو نه درې میاشتې وروسته پوه شوم چې شبنم واده شوې وه. دوه کاله کېدل چې ښار ته راغلي وه څکه د خاوند دنده یې دلته وه. د شبنم یوه لور هم شوې وه، یوه کلنه، ثناء نومېده، ډېره خوږه وه. دلته شبنم خاوند، خواښې او زما مور اوسېدل دمور سره مې د ورونو او وریندارګانو چلند ښه نه و، تل به یې مور ته زما پیغورونه ورکول. شبنم او خاوند یې چې دا حالت ولید، مور یې له هغوی

ketabton.com - The Digital Library



---

ښخه خپل کور ته راوستې وه. دوه کاله کېدل چې مور مې دلته د دوی سره اوسېده. کله کله به د ورونو کور ته تلله، .خو یواځې د څو شپو لپاره

د ورونو مې اقتصادي حالت خراب و، کاروبار یې نه درلود. د دوی د حالاتو په اورېدو خفه شوم. که څه هم هغوی ظالمان او په زړه سخت وو، خو بیا هم زما ورونه .وو، زړه مې درد کاوه

شپې مو ډوډۍ وخوړه. پوهېدم چې ټول دې ته په تمه وو چې زه به څه وایم، چېرې وم؟ څه را باندې تېر شوي؟ دا سړی (بشیر کاکا) څوک دی؟ نو ما له ډوډۍ وروسته له .سره کیسه پیل کړه

ما د اشرف د مور ظلمونه، زما وهل، زما تښتنه، کابل ته تلل، د بشیر کاکا مرسته، پوهنتون، کاروبار او خپل کور ټول حال ورته وویل. ټول دومره حیران وو، لکه یو جالب .فلم چې ګوري

ketabton.com - The Digital Library



شبنم وویل: «ته چې کله ورکه شوې، دوه ورځې وروسته مور د اشرف د کورنۍ له لوري خبر شوو. هغوی وویل چې دا له یوه هلک سره تښتېدلې ده، خو زه او مور مې .پوهېدو چې ته داسې نشې کولای»
خو ورونو مې ویل چې ته سمه نه وې، زمونږ عزت دې خراب کړی، باید سزا درکړل شي. له همدې امله د اشرف د کورنۍ سره یوځای څو ورځې تا پسې ډېر وګرځېدل، هر .ځای یې پوښتنې کولې، خو له تا هېڅ معلومات نه وو

زه او مور که څه هم اندېښمن وو، خو بیا هم خوشاله وو چې ته وتلې وې. ځکه زه پوهېدم، باور مې و چې ته پیاوړې یې او خپل ځان ساتلی شې. هغوی که څه هم نور ستا د لټون نه ستړي شوي وو، خو د خلکو د خبرو له امله یې بیا هم پلټنې کولې. خو خدای ډېر لوی دی، هر چاته د .هغه د بدو سزا ضرور ورکوي

دوې میاشتې وروسته د اشرف مړی پیدا شو. د ډېرو نشو له امله یې ژوند له لاسه ورکړی و. هغوی چې د خپل زوی د درملنې پر ځای، ستا د لټون او سزا ورکولو پسې ګرځېدل دخپل ځوان زوي په غم اخته‌شوه. د هغه د مرګ

ketabton.com - The Digital Library



نه وروسته، نور يې هيڅ حق نه درلود چې تا ته سزا درکړي.

نو له هغه ځايه يې کډه وکړه، ټول لاړل ايران ته. خو د ورونو مې بيا هم هغه ضد او ناپوهي ختمه نه شوه. ځکه به يې تل مورجانه ستا په پيغورونو زوروله. له همدې امله مې له خپل واده وروسته مورجانه دلته راوستله.

د شبنم د خبرو په اورېدو، که څه هم د اشرف په مرګ لږ خفه شوم، ځکه هغه ځوان و، او ماسره يې کوم بد نه و کړي، خو په دې ډېره خوشاله شوم چې نور له هغه کورنۍ سره هيڅ اړيکه نه لرم. نور مجبوره نه يم طلاق واخلم يا د هغوی جنجالونه وزغمم.بشير کاکا هم د دې خبرو په اورېدو ډېر خوشاله شو، وې ويل: «دا خو لا ښه وشول. اوس ته ازاده يې، طلاق ته هم اړتيا نشته، نه کوم بل جنجال ته.»

پنځه شپې شوې وې، بشير کاکا راته وويل: «لورې، څنګه دې خوښه ده؟ لاړ شو؟ نور زما کارونه هم پاتې دي، ستا هم کاروبار او درسونه دي.»

ketabton.com - The Digital Library



ومې ویل: «سمده کاکا جان، څنګه چې ستاسو خوښه وي.»

ویې ویل: سمه ده لورې، سبا سهار به له خیر سره روان شو. که څه هم مور او شبنم مي نه غوښتل چې لاړه شم ، خو ما هغوی قانع کړي ،چې زما درسونه، کار او هر څه پاتې وو، نو تلل مې اړین وو. هغوی هم ومنله او ویې ویل چې ځو ورځې وروسته به زموږ لیدو ته راځي.

شپږمه ورځ سهار مو خدای په اماني وکړه او روان شوو. د شپې کور ته راورسېدو. محمد کاکا او خاله ډېره خوشاله شوه. په ربښتیا سره دا زما کورنۍ وه، داسې لکه څو میاشتې چې تللې وم او اوس بېرته راغلې یم.

هغوی ته مو ټوله کیسه وکړه، هغوی هم خوشاله وو، ځکه هر څه د جنجال پرته ښه حل شوي وو.

سبا مې خپل درسونه او کار بېرته شروع کړل. یوه میاشت تیره شوه، ما به وخت ناوخته له مور او خور سره خبرې

ketabton.com - The Digital Library



کولې، ډېرپ خوشاله وم، ژوند مې ښه روان و. کله به
.موږ خپل کور کې وو، کله به د بشیر کاکا کور ته تللو

زبیر هم یوه ښه دنده پیدا کړه. زه او زبیر نور د یو نزدې،
.باور وړو ملګرو په څېر یو بل سره راحته او خوشاله وو

یوه ورځ شبنم زنګ وواهه چې هغوی غواړي زموږ کور
ته راشي. ما د کور پته ورکړه. هغوی ټول راغلل: شبنم،
مور مې، اوښی، او د شبنم خوابښې. د شپې ته بشیر کاکا او
.فریده خاله هم راغلل. دا شپه ربښتیا هم له خوشالیو ډکه وه

سبا هم ټول دلته پاتې شول. د شپې ډوډۍ خوړلو وروسته
.بشیر کاکا او فریده خاله راغلل. ما چای راوړ
:وروسته بشیر کاکا وویل
«.موږ نن دلته د یو مهم کار لپاره راغلي یو»

:ماته یې مخ واړاوه، ویې ویل
لوري، دا خبره مو له ډېر وخت راهیسې زړونو کې»
ساتلې وه. له محمد کاکا سره مو هم شریکه کړې وه، هغه

ketabton.com - The Digital Library



وویل چې په سم وخت کې به دا موضوع درسره شریکه کړو.

لورجاني، د زبیر په اړه مو نن شپه دا مناسب وخت وباله. ته زموږ د لور په خبر یې، تل به همداسې پاتې شې. ستا پاک زړه، ستا اخلاق، او نیت زموږ کوچنۍ کورنۍ ته لوی برکت راوست. نن ټول د تا له امله خوشاله یو. همدا وجه ده چې موږ پریکړه کړې ده، تا د تل لپاره خپله لور کړو، او تا د خپل زوی، زبیر، لپاره وغواړو.»

دا خبرې چې مې واورېدې، ډېره حېرانه شوم. ځکه ما هېڅکله د دې په اړه فکر نه وو کړی. نه پوهېدم څه ووایم. کله به مې کاکا ته کتل، کله مور ته، کله شبنم ته... ټول چوپ ناست وو، لکه چې هغوی هم زما په څېر حیران وي.

بشیر کاکا وخندل او ویې ویل:
«لورې، پوهېږم حېرانه شوې یې، خو ما ځکه دا خبره له تا سره وکړه چې نه غواړم نور ستا د ژوند په اړه پرېکړه وکړي. ته خپله باید پریکړه وکړې. اولورجاني، هره

ketabton.com - The Digital Library



پرېکړه چې کوې، مور به يې د زړه له کومې منو. ته به زمور لور يې، دا به هېڅکله بدلون ونه مومي. خپل فکر وکړه، سبا ماښام مور راځو، چې ستا پرېکړه واورو.»

زه لا هم همدلته ناسته وم، حېرانه، نه پوهېدم څه وکړم. محمد کاکا ووېل:«لورې، ته چې کلي ته لا نه وې تللې چې بشير کاکا مور ته دا خبره کړې وه. خو مور تصميم ونيو چې تا ته به وروسته وايو. کله دې چې ووېل مور او خور دې راځي، نو بيا مو ووېل چې ښه به دا وي، چې د هغوی راتګ ته انتظار وکړو، او وروسته دا موضوع شريکه کړو.

لورجاني، تا مخکې د ژوند ډېره سخته تجربه تېره کړې ده. نو اوس بايد پوره فکر وکړې. زبير ته پېژنې، پوهېږې څنګه هلک دی. نور خو ستا خپله خوښه ده. لورجاني- مور مې هم د محمد کاکا خبرې تاييد کړې، ټول لاړو خوب ته. خو ما له دومره فکرونو سره خوب نه شوای کولای. سهار چې مو چای وڅښلو، خاله ووېل کورلپاره لږ سودا په کار ده ته سودا ته لاړه شه. زه هم د سودا اخيستلو لپاره له کوره راووتلم چې زبير مخې ته راغی. نه پوهېدم ولې، خو

ketabton.com - The Digital Library



لاسونه مې رېږدېدل. سمدلاسه مې د بشیر کاکا هغه خبره را یاده شوه، چې وېل یې: "د زبیر په خبره، نن شپه مناسب وخت دی..."
*زړه کې مې وویل: *یعنې د ده غوښتنه هم همدا وه؟

زبیر ماته نژدې شو، سلام یې وکړ. وې ویل:
«چېرې ځې؟»

ومې ویل:
«سودا ته.»

ویې ویل:
«سمه ده، راځه زه هم ځم. که خوښه دې وي، لاره کې به لږې خبرې هم وکړو.»

زړه مې سخته درزا کاوه، هیڅ نه پوهېدم ولې، او دا کوم حالت دی؟ خو بله چاره نه وه مې منله. د هغه موټر کې ښار ته لاړو. سودا مو واخیسته. وروسته یو رستورانت ته لاړو، کیناستو، چای مو وغوښت. خو ما هېڅ نشوای

ketabton.com - The Digital Library



کولای چې ورته وګورم.هغه هم ښایي زما دا حالت درک کاوه، نو کله ناکله به یې پټ وخندل له ځان سره.

چې چای راوړل شو، زبیر وویل:
ډیوې، پوهیږم حیرانه شوې به یې، ځکه شاید تا هېڅکله» داسې فکر نه وی کړی. خو هغه خبره چې پلار مې تاسو ته وکړه، یواځې د دوی نه وه، بلکې تر ټولو زیاته زما غوښتنه وه. باور وکړه، هماغه ورځ چې راغلم او ته مې لومړی ځل ولیدلې، ته زما په زړه کې ځای شوې.
خو زه نه پوهېدم ته څومره ښایسته، مهربانه، او زړه سوانده انسانه یې..
ستاسره په ګډ ژوند کې، زه په دې هر څه پوه شوم. ځکه مې څو ځله له خپلې مور او پلار وغوښتل چې له تاسره خبرې وکړي. ما غوښتل اول هغوي درسره دا موضوع شریکه کړي.
خو باور وکړه، ته زما ډېره خوښېږې، زما لپاره ډېره خاصه یې، او زه هیله من یم چې تل به همداسې پاتې شې.
یواځې دومره وایم، هیله لرم په سمه توګه فکر وکړې، او زما د خبرو ژورتیا درک کړې.

ketabton.com - The Digital Library



ټول حالت راته عجیبه و. دا خبرې زما لپاره نوې او ناپېژندلې وې، خو نه پوهېدم ولې، هر څه راته ښه ښکارېدل...

کور ته راغلو.
شپه شوه، بشیر کاکا او د دوی کورنۍ راغله.
کله چې یې زما نه د فیصلې پوښتنه وکړه، ما وخندل، و مې ویل:
"څنګه چې د محمد کاکا، خاله، او زما د مور خوښه وي، همداسې زما هم خوښه ده."
نو هغوی هم پوه شول ځکه محمد کاکا خو له مخکې نه مثبت جواب ورکړی و. هماغه شپه ټولو د "هو" جواب ورکړ. ټول خوشاله وو.

په سبا کوژده وشوه.
مور دوي مې ببرته لاړل. څو ورځې تېرې شوې. دا چې زمونږ کورونه یو ځای وو او هېڅ خنډ نه و، د کاکا دوي په غوښتنه، یوه میاشت وروسته د واده نېټه وټاکل شوه.

ketabton.com - The Digital Library



په یوه میاشت کې ټولو کارونو ته تابیا وشوه. کوټه، جامې، هر څه زما او زبیر په خوښه تیار شول. خور دوې مې هم د واده لپاره راغلل.

د واده شپه ډېره ښکلې وه. ډېر مېلمانه راغلي وو. ماخپل ځان ډېر خوشبخته احساسو، ځکه چې د یوې کورنۍ پر ځای، درې کورنۍ، درې میندې مې درلودې چې ټولو راسره بېحده مینه کوله.

واده ختم شو. زما ژوند ډېر خوشاله روان و.
محمد کاکا دوي به هم ډوډۍ زموږ سره خوړله، یواځې د شپې کور ته تلل. یوه لویه کورنۍ مې درلوده، چې ټولو راسره مینه کوله.

زما کار هم هماغسې روان و.
درسونو کې به کله کله زبیر مرسته راسره کوله.
هغه ورځ چې له پوهنتونه فارغه شوم، زبیر یوه لویه مېلمستیا جوړه کړه.
مور، شبنم، دوي ټول راغلل.

ketabton.com - The Digital Library



ورونه مې هم پر هر څه خبر شوي وو، خو له شرمه را نه غلل.
.هغه ورځ مې هم د خپل پلار هيله پوره کړه، هم خپلې

هغه شپه د نړۍ تر ټولو خوشبخته نجلۍ وم، له خوشالۍ جامو کې نه ځايېدم.مور، خور، محمد کاکا، خاله، بشير کاکا، فريده خاله... ټولو زما نوم په وياړ ياداوه.

*.همدا زما لپاره نههېرېدونکې شپه وه*

:هغه شيبه مې له ځانه سره وويل

*"که همت وکړو، پياوړي واوسو، نو هره هيله پوره کېدای شي. هيڅ څه ناشوني نه دي. يواځې زموږ قوي اراده هر څه بدلولای شي."*

*پای*

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*